# له (ډاکټر طارق رشاد) سره چې پیاوړی او نومیالی لیکوال، تکړه شاعر، ژباړونکی او هڅاند څېړونکی دی، د فوتوریسم د نړیوال ښوونځی په تړاو ځانګړې مرکه

## مرکوال: انجنیر عبدالقادر مسعود

یو پیاوړی نوښتګر لیکوال او څېړونکی هغه څوک دی چې د علمي اصولو، اصالت، انتقادي فکر او نوښت پر بنسټ خپلې لیکنې وړاندې کوي. د هغه آثار یوازې د معلوماتو ټولګه نه وي، بلکې د نویو نظریاتو، ژور تحلیل او مستندو پایلو له لارې د پوهې په پراختیا کې مهم رول لوبوي. د داسې شخصیت علمي او مسلکي ارزښت د څېړنیز صداقت، فکري خپلواکۍ، ادبي ځواک، او د ټولنې پر علمي او فرهنګي پرمختګ د اغېز له مخې څرګندېږي.

ښاغلی ډاکټر طارق رشاد هغه پیاوړی لیکوال دی، چې په خپلو څېړنو کې ژوره پوهه، د علمي سرچینو د کارولو وړتیا، او د استدلال ځواک لري. دی په خپلو لیکنو او څېړنو کې نوي لید توګي، تازه لیدلوري او اصیل  اندوفکر وړاندې کوي، نه دا چې یوازې د نورو نظریات تکرار کړي. دی د څېړنې په بهیر کې علمي میتود، کره سرچینې، دقیق تحلیل او منطقي پایلې کاروي. د ده د لیکنو او څېړنو ژبه روانه، علمي، ادبي او د لوستونکو له کچې سره مناسبه ده. د بیان وضاحت، د افکارو تسلسل او د موضوع منظم تنظیم د ښاغلي ډاکټر رشاد د ځواک نښه ده. دی هغه نوښتګر لیکوال او څېړونکی دی چې یوازې معلومات نه راټولوي، بلکې تحلیل، پرتله، نقد او ارزونه هم کوي او خپلواک نظر وړاندې کوي. د هغه لیکنې

د زده‌کوونکو او لوستونکو لپاره ګټورې او د علمي پرمختګ او پراختیا، فرهنګي ودې او ټولنیز پوهاوي په برخه کې ګټور او اغېزناک ارزښت لري.

ښاغلي پوهاند استاد محمد بشیر دودیال، چې د علم، ادب او فرهنګ په غوړېدلي ډګر کې پیاوړی ادیب، کیسه لیکونکی، نوښتګر څېړونکی او وتلی لیکوال دی په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي ډاکټر طارق رشاد په تړاو داسې وایي:

((د ادب او ادبیاتو نړۍ پراخه او ډېره په زړه پورې ده. په دې لوی ډګر کې یو هم ادبی مکتبونه دي. ادبی مکتبونه پېژندل او ورباندې پوهېدل هم د ادبیاتود تاریخ، هم د ادبی تحقیق او هم د تخلیق له پلوه مهم دي. له نېکه مرغه دا دی زموږ په دې مرکه کې ښاغلي داکترصاحب طارق رشاد یو بل ادبی نړیوال مکتب(فوتوریزم) معرفی کړ. د ښاغلی ط. رشاد قلم دی پیاوړی وي. داکترصاحب لکه د نورو برخو په شان د ادبیاتو؛ په تېره د ادبي مکتبونو په هکله ډېر عملي او جامع معلومات لري . د فوتوریزم په اړه په دغه مرکه کې د دغه جالب ادبي مکتب، بېلګې او نامتو لیکوال، نامتونښېرونه او د فوتوریزم ځانګړنې په خورا علمی او مستند ډول معرفي شوي دي. د داکترصاحب لوی کمال دا دی چې نړیوال ادب سره پوره اشنایی لري او ماخذ یې انګلیسی معتبر منابع دي. دفوتوریزم د مکتب او ادبي ایجادیاتو او د هغو د نامتو لیکوالو او آثارو په اړه ډېر نوي او په زړه پورې معلومات او مستند مثالونه په دغه مرکه کې شته. دا هغه څه دي چې تراوسه موږ پښتو لیکنو کې ډېر لږ ورسره مخامخ شوي وو.

د داکترصاحب طارق رشاد دا لیکنه به د ځوانانو لپاره نه یواځې نوې او د په زړه پورې وي، بلکې دغه نسبتاً نوی ادبی مکتب به ډېر ښه وپېژني. د داکتر صاحب لیکنه کې انګلیسي اصطلاحات موضوع نوره هم روښانه او پوره مدللــه کوي. داکتر

صاحب په دري، پښتو، هالندي او انګلیسي ژبو مسلط او د همدغو ژبو له ادبیاتو سره پوره آشنا دی. په ډېر ښه ډول یې د دغو ټولو ژبو پانګه سره تلفیق کړې ده او د فوتوریزم مکتب یی راته تشریح کړی دی.

ادبی مکتبونه له د رنګارنګ ګلانو باغچې دي، هر لیکوال یو ګل او هره باغچه یو ادبي مکتب او ټول یې بیا یو ګلستان دی. د ټولو لیدل موږ ته د ښایست راز راز اړخونه را پېژني.))

په رښتیا سره چې ښاغلی ډاکټر طارق رشاد د لوړ او غښتلي استعداد، پراخ لید، اوچت قلم او د وطني، ملي، انساني ارمان څښتن دی. دی زړه سواندی، خواخوږی، مهربان او متواضع شخصیت دی، له خپلو ملګرو، دوستانو او یارانو سره او له هېواد او هېوادوالو سره ژوره مینه لري.

همداسې ښاغلی علم ګل سحر، چې د پښتو ادب په غوړېدلي ډګر کې هڅاند او مخکښ لیکوال، شاعر، کیسه او داستان لیکونکی دی، په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي طارق رشاد د علمي او ادبي ستې په تړاو داسې وایي:

((ډاکتر طارق رشاد د یو تکړه لیکوال، څېړونکي او وتلي فرهنګي شخصیت په حیث د افغانستان په علمي کړیو کې ځانګړی مقام لري. د هغه څېړنې او لیکنې د پښتو ادبیاتو، کلتور او تاریخ په ژورتیا رڼا اچوي.

ساده او مینه ناک کلام لري، د هغه د شخصیت تر ټولو ښکلې ځانګړنه د هغه تواضع، نرمه لهجه او صمیمي چلند دی.

ډاکټر صاحب رشاد د افغانستان او سیمې د ستر لیکوال اکادیمیسن علامه عبدالشکور رشاد زوی دی، د علامه رشاد له څو ساعته ملاقات او مجلس څخه ډیر څه زده کیدل، دی چې د دې ستر شخصیت په کورنۍ پورې تړاو لري او د

دغه لوی انسان په لاس روزل شوی دی، طبعي ده چې له هغه یې ډېر فیض وړی دی.

ډاکترصاحب رشاد د افغان ځوان نسل په روزنه او هڅونه کې بېساری رول لوبولی دی.

په خپلو لیکنو کې یو بې پرې، دقیق او ژور لیدلوری لري. د محترم رشاد صاحب په لیکنو کې تل د ملي هویت، ژبني اصالت او کلتوري بډاینې درد او مینه ښکاري.

ډاکتر صاحب طارق رشاد پخپلو ارزښتناکو لیکنو سره د پښتو ادب او فرهنګ بڼ سمسور ساتلی دی. د داسې شخصیتونو شته والی د یوې ټولنې د ژوندي پاتې کېدو او فکري پرمختګ تر ټولو لویه شتمني ده. ډاکتر صاحب رشاد ته  د افغاني فرهنګ او ادب د لا زیاتو خدمتونو په لاره کې د نورو بریاوو هیله کوم.))

د ادب او فرهنګ درنو او پتمنو مینه والو، ما د ښاغلي ډاکټر طارق رشاد د پوره پېژندګلوي په تړاو له ده سره یوه ځانګړې مرکه جوړه کړې ده، چې ستاسو د علم او ادب درنو مینه والو پام ورته راګرځوم.

ګران ډاکټر طارق رشاد صاحب زما سلامونه او پېرزوینې ومنئ، اجازه راکړئ چې خپلې پوښتنې پیل کړم.

ګران مسعود صاحب ډېره مننه. زه هم تاسو او ټولو مینه والو ته سلامونه وړاندې کوم او ستاسو په خدمت او چوپړ کې یم.

***

**مسعود:** تاسو ادبیات څنګه راپېژنئ؟ د نړۍ د اغېزمنو او ارزښت لرونکو پېژندل شوو پخوانیو ادبي ښیرونو(اثارو) او پېژاندو لیکوالو په اړه یې څه اند لرئ؟

**ډاکټر رشاد:** زما په اند، ادبیات د انساني روح، فکر، احساس او تخیل هغه هنري هنداره ده چې د زمانې، ټولنې او انسان د دنني نړۍ رنګونه پکښې لیدل کېږي.

ادبیات یوازې د تورو ښکلی ترتیب نه دي بلکې د انسان د ژوند د تجربو، ارمانونو، دردونو او هیلو هنري بیان دي. هر ملت خپله تاریخي حافظه، کلتوري ارزښتونه او معنوي پانګه د ادبیاتو له لارې راتلونکو نسلونو ته سپاري.

د نړۍ ستر ادبي آثار لکه د هومر «ایلیاد» او «اوډیسي»، د دانته «الهي کمېډي»، د شکسپیر ډرامې، د ګویټه «فاوست»، د تولستوی او داستایفسکي ناولونه، او د خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حمید مومند ، حافظ او مولانا شعري اثار نه یوازې د خپلو ملتونو استازیتوب کوي بلکې د بشریت ګډ معنوي میراث ګڼل کېږي. د دغو اثارو لوی ارزښت په دې کې دی چې د انسان د وجود تلپاتي پوښتنو ته هنري او فکري ځوابونه وړاندې کوي.

نو ویلای سو چې ادبیات د یوې ټولنې د رواني حالت هینداره ده، کله چې یوه ټولنه په کړکېچ کې وي نو د هغې ادبیات غمجن، تیاره او له نیوکو ډک وي او کله چې ټولنه خوشاله وي نو ادبیات یې له ږوږ (شور)، خوښۍ او هیلو ډک وي.

دغه راز، ادبیات د انسان هغه رازونه هم څرګندوي چې په ورځني ژوند کې یې نه سي ویلای خو شاعر یا لیکوال یې په هنري بڼه رابرسېره کوي.

سربېره پر دې، ادبیات د تاریخ ثبتولو یوه هنري لاره هم ده ځکه چې ډېرې تاریخي پېښې چې په رسمي کتابونو کې نه دي راغلي هغه د شعرونو، ناولونو او

داستانونو له لارې ژوندۍ پاتې سوي دي د بېلګې په توګه، د فردوسي «شاهنامه» یوازې یو شعري اثر نه دی، بلکې د دې سیمې د پخوانیو اتلانو او جنګونو یو هنري تاریخ هم دی.

**مسعود:** د ادبي ښوونځي(مکتب)او ادبي سبک تر منځ توپیر په څه کې دی؟ ستاسو لید او اند په دې تړاو څه دی؟

**ډاکټر رشاد:** ادبي مکتب او ادبي سبک که څه هم سره نژدې مفاهیم دي خو بشپړ یو شی نه دي ځکه ادبي مکتب د لیکوالو، شاعرانو او هنرمندانو هغه فکري او هنري خوځښت ته ویل کېږي چي د ځانګړو اصولو، نظریاتو او مشترکو موخو پر بنسټ رامنځته سوي وي لکه رومانتیزم، ریالیزم، ناتورالزم، سمبولیزم او فوتوریزم.

خو سبک بیا د یوه لیکوال یا شاعر ځانګړې طریقه، ژبه، بیان، تخیل او هنري ځانګړتیاوې دي. کېدای سي چي څو لیکوالان د یوه مکتب پیروان وي خو هر یو بېل سبک ولري. د بېلګې په توګه ټول رومانتیستان یو مکتب لري، خو د ویکتور هوګو سبک د لامارتین له سبک څخه توپیر لري.

د دې ترڅنګ، یو بل مهم ټکی دا دي چي سبک د زمانې او ځای له مخې هم بدلېږي، یو شاعر په ځوانۍ کې یو سبک لري او په پوخوالي کې بل سبک. همدا راز یو لیکوال کېدای سي په نثر کې یو سبک ولري او په نظم کې بل، نو ځکه سبک د شخصیت، ذهنیت او تجربو له پخوالي سره تړاو لري خو مکتب بیا ټولیز او جمعي ماهیت لري.

د دې ترڅنګ یو بل توپیر یې دا دي چي مکتب د یوې ټولنې د فکري جریان استازیتوب کوي ، خو سبک د یو هنرمند د شخصي نخښې په توګه پېژندل کېږي

د بېلګې په توګه د صوفي شاعرانو مکتب د عرفان او عشق پر محور رامنځته سوی خو د مولانا سبک د جامي او عطار له سبک څخه بېل دی که څه هم ټول د صوفي مکتب یا صوفیزم پیروان ول او همداسي رحمان بابا او حمید مومند.

**مسعود:** د هیڅ ادبي ښوونځی رامنځته کېدنه ناڅاپي او پرته له سریزې نه وي، د هر یوه ډېری نښې د پخواني پېر په ادبي نښیرونو (اثارو) کې موندل کېدای شي چې د ادبي مکتبونو د پیدایښت، جوړېدنې، بدلون، ودې، پرمختګ او د له منځه تللو لامل ګرځي، په دې اړه ستاسو علمي ارزونه څه ده؟

**ډاکټر رشاد:** بېشکه چي هیڅ ادبي مکتب له تاریخي، فکري او ټولنیزو شرایطو څخه بېل نه راټوکېږي. هر مکتب د مخکنیو فکري جریانونو د دوام، مخالفت یا بدلون پایله وي. کله چي په ټولنه کې سیاسي، اقتصادي، فلسفي او کلتوري بدلونونه راځي نو ادبیات هم ورسره بدلېږي او نوي مکتبونه زېږي.

د بېلګې په توګه، رومانتیزم د کلاسیکیزم پر ضد راپاڅېد ځکه کلاسیکیزم له منطق، قاعدې او نظم سره مینه لرله خو رومانتیستانو عواطفو، احساساتو، طبیعت او انفرادیت ته لومړیتوب ورکړ. ریالیزم بیا د رومانتیزم د افراطي خیالپالنې پر وړاندې غبرګون و او غوښتل یې چي ژوند لکه څنګه چي دی همداسې وښیي او ناتورالزم بیا له تصنع پرته د ریالیزم له بطنه راوزېږېد او د ساینس ، طبیعت او چاپېریال پر اغېز یې ټینګار کاوه. فوتوریزم بیا د صنعتي عصر، ماشین، سرعت او نوې نړۍ د روحیې محصول و. نو ځکه، هر ادبي مکتب تاریخي او فکري ریښې لري.

په دې وروستیو کې که موږ د شلمې پېړۍ وروستۍ لسیزې ته وګورو نو د پستمډرنیزم مکتب راڅرګند سو چي د مطلقو حقیقتونو او لویو روایتونو پر ضد

راپاڅېد او دا هم د هغې زمانې د جنګونو، ټکنالوژۍ او رسنیو د پراخېدو پایله وه. پست‌مدرنیستانو باور درلود چې هیڅ مطلق حقیقت نسته او هر څه د زمانې، ځای او کلتور سره تړاو لري نو ځکه دوی به د یوې پېښې په اړه ځو بېلابېل روایتونه وړاندې کول او لوستونکی به یې مجبور کول چې پخپله حقیقت پیدا کړي. دا هم د دویمې نړیوالې جګړې، د ښکېلاک(استعمار) له پای او د رسنیو د پراخېدو یوه سیده او مستقیمه پایله وه.

**مسعود:** تاسو د فوتوریسم ښوونځی څنګه راپېژنئ او ارزوئ، کوم، چې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې یو له ادبي او هنري خوځښتونو څخه وو. د دې غورځنګ مرکز په ایټالیا کې او د روسیې په ګډون په ټوله اروپا کې فعال ول. ښه به وي که د نوموړي مکتب د تاریخ، آر او بنسټ په اړه خپلې ارزونې راسره شریکې کړئ، چیرته، کله او د چا لخوا جوړ کړای شوی او لمړني بنسټ ایښودونکي یې څوک ول؟

**ډاکټر رشاد:** فوتوریزم د شلمې پېړۍ د لومړیو کلونو یو له مهمو ادبي او هنري خوځښتونو څخه دی چې په (۱۹۰۹)کال کې د ایټالیا د نامتو شاعر او مفکر فیلیپو توماسو مارینېټي له خوا یې بنسټ کېښېښوول سو.

دغه غورځنګ د پخوانیو دودونو، کلاسیکو ارزښتونو او تاریخي میراثونو پر ضد راپاڅېد او د سرعت، ځواک، ماشین، ټکنالوژۍ او راتلونکي ستاینه یې کوله.

فوتوریستانو باور درلود چې نوی عصر نوي هنر ته اړتیا لري. دوی غوښتل چې ادب، نقاشي، معمارۍ، موسیقي او تیاتر د معاصر صنعتي ژوند له غوښتنو سره سمون پیدا کړي. د دې مکتب لویه ځانګړنه د حرکت، انرژۍ او نوښت ستاینه ده.

د دې ترڅنګ، فوتوریزم یوازې په ایټالیا پورې محدود پاته نه سو بلکې روسی فوتوریزم هم راڅرګند سو چي د ولادیمیر مایاکوفسکي په څېر شاعرانو یې د ژبې او وزن په ماتولو سره انقلابي شعرونه وویل. روسي فوتوریستانو له سیاست سره ډېره لېوالتیا نه لرله خو د هنر د نوي والي په خاطر یې ډېرې هڅې وکړې. حتی

په روسیه کې د زاوم(Zaum) ژبې او تجربوي شاعری پلویانو د شعر په بڼه،

تلفظ او ژبه کې دومره بدلون راوړ چي عام خلک نه په پوهېدل خو همدغه زړورتیا یې د نوي شعر لپاره لاره هواره کړه.

سربېره پر دې فوتوریزم د نن ورځې پر ډیجیټل هنرونو، اعلاناتو، سینماتوګرافي او حتی د کمپیوټر انیمیشنونو باندې هم غیرمستقیم اغېز کړی دی ځکه نني هنرمندان له سرعت، ټکنالوژی، بصري اغېزو او ځو اړخیز هنر څخه کار اخلي هغه شیان چي فوتوریستانو یې ډېر پخوا وړاندوینه کړې وه. حتی د نن ورځې (sciencefiction)ساینسي افسانوي فلمونه او ویډیو لوبې هم د فوتوریستي ذهنیت ثمره ده.

بل مهم ټکی دا دي چي فوتوریستانو د ژبې په حوزه کې هم لوی بدلون راوړ. دوی به د فعلونو زماني ماتولې، نومونه (اسمونه) به یې په ناڅاپي ډول سره نښلول او د اوزانو او قافیې پابندي به یې نه کوله. دوی باور درلود چي شعر باید د ماشین د چټکتیا او د برېښنا غوندې چټک، تېز او بې ځنډه وي.

همدا وجه وه چي د دوی شعرونه ډېر وخت شعارونو او اعلاناتو ته ورته ول.

سره له دې چي فوتوریزم د عصري هنر په وده کې ژور اغېز درلود خو ځیني افراطي سیاسي تمایلات یې لکه له فاشیزم سره نژدېوالی وروسته د نیوکو سبب

هم سو خو که له سیاسي اړخه یې تېر سو نو د معاصر هنر او ادبیاتو په تاریخ کې د دې مکتب رول نه سي هېرېدلای، په ځانګړې توګه چي د هنري ازادۍ او نوي والي لپاره یې دروازې پرانیستې. په پای کې فوتوریزم موږ ته دا درس راکوي چي هنر باید د زمانې له روح سره همږغه وي، که نه نو زوړ او بې حسه کېږي.

د دې ترڅنګ، که موږ د فوتوریزم او نني ډیجیټل عصر پرتله وکړو نو ګورو چي د فوتوریستانو ډېرې وړاندوینې ربښتیا سوې دي؛ نن ورځ موږ له مصنوعي ځیرکتیا، مجازي واقعیت او چټکو ټکنالوژیو سره ژوند کوو او هنر یې تر اغېز لاندې راوستی دی خو یو توپیر یې دا دي چي فوتوریستانو ماشین او ټکنالوژي د انسان پر مخ د یو مثالي ځواک په توګه لیده خو نن موږ پوهېږو چي ټکنالوژي دواړه ګټې او تاوانونه لري او هنر باید دا توازن درک او هنري یې وتلي.

**مسعود:** ویل شوې دي: د فوتوریسم اندپوهه په ناتورالیسم، سمبولیزم او اونانیمیسم کې، او همدارنګه د «نیچه»، «برګسون» او «ژرژسورل» په فلسفي اندونو او افکارو کې ریښه لري. تاسو د فلسفي اندونو او افکارو په رڼا کې په دې اړه څه لید لرئ؟

**ډاکټر رشاد:** د هر ادبي او هنري غورځنګ تر شا یوه فکري او فلسفي نړې لید موجود وي. فوتوریزم هم له دې قاعدې مستثنی نه دی، که څه هم فوتوریستانو د خپل وخت د دودیزو ارزښتونو د ماتولو شعار ورکاوه خو د دوی فکري ریښې د نولسمي پېړۍ په فلسفي او ادبي بهیرونو کې ژورې ښخې دي.

فریدریش نیچه د ځواک، ارادې او فوق الانسان نظریه مطرح کړه. فوتوریستانو له همدې فکره الهام واخیست او د ځواک، ګړندیتوب او عمل ستاینه یې وکړه.

هنري برګسون د حرکت، بدلون او د ژوند دوامداره تحول فلسفه يې وړاندي کړه چې د فوتوريزم د خوځښت او انرژۍ له مفکورې سره بشپړه همږغي لري.

ژرژ سورل بيا د انقلابي عمل، مبارزې او ارادې اهميت روښانه کاوه چې دا هم د دوی د بنسټيز بدلون سره سمون لري.

له بلې خوا سمبوليزم د هنري بيان نوې دروازې پرانيستې او ناتوراليزم د معاصر ژوند واقعي اړخونه مطرح کړل. فوتوريستانو له دغو ټولو بهيرونو څخه ګټه واخيسته خو خپل مستقل هنري هويت يې هم جوړ کړ.

فوتوريزم له ناتوراليزمه دا فکر اخيستی چې هنر بايد د ژوند له حقيقي حالاتو سره تړلی وي او له سمبوليزمه يې دا زده کړل چې کېدای سي د يوې خبرې تر شا بله معنی او يا مفهوم هم پټ وي. خو فوتوريستانو دغه دواړه له يو بل سره ګډ کړل او يو نوي څه يې جوړ کړل چې هغه د "ماشيني ژوند" ستاينه ده. دوی ويل چې نړۍ نوره هغه پخوانۍ نړۍ نه ده چې ناتوراليستانو انځوروله بلکې دا د برق او اوسپنې نړۍ ده او هنر بايد دا نوې ښکلا وښيي. د برګسون خبره هم دې ته ورته ده چې ژوند يو بهېدونکی سيند دی نه ولاړ نو فوتوريستانو هم دا بهېدل د خپل هنر بنسټ وګاڼه.

**مسعود:** فوتوريسم د ايټاليا په ميلان کې جوړ شوی دی، خو د جوړولو سند يې په پاريس کې خپور شوی دی. « فيليپو توماس مارينتي»، چې ايتاليايي شاعر، ليکوال، ډرامه ليکونکی او موسيقي پوه وو، د دې مکتب بنسټ ايښودونکی دی. د فوتوريسم منشور يا بيانيه د فبروري په(۲۰) د "فيګارو" ورځپاڼې په لومړي مخ کې خپور شو. د (۱۹۰۹) د منشور يا بيانيې له خپريدو وروسته فوتوريسم په اروپا او روسيې کې د مخکښو هنري حلقو له لارې د ليوالتيا او هرکلي سره مخامخ

شو. تاسو د دې بیانیې موخه، منځپانګه، موضوع، مضمون او پیغام څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** د (۱۹۰۹)ز کال د فبرورۍ پر شلمه نېټه چې د فلیپو توماسو مارینېټي(F.T.Marineti) (۱۸۷٦ - ۱۹۴۴ ز) فوتوریستي مانیفیسټ یا

منشور  په یوولسو مادو کې د فرانسې په مشهوره ورځپاڼه «لو فیګارو»

(Le Figaro)  کې خپور سو او وروسته د هغه ژباړه د میلان د شعر

(Poesia)د مجلې په وروستۍ ګڼه کې خپور سو او دا هغه مجله وه

 چې مارینېټي په (۱۹۰۵) ز کال کې  بنسټ ایښی و خو په حقیقت کې د معاصر هنر په تاریخ کې یوه نوې مرحله پیل سوه.

دا مانیفست یا منشور ځکه لومړی ځل په پاریس کې خپور سو چې پاریس هغه مهال د هنر او ادب پلازمېنه وه او مارینېټي غوښتل چې هلته خپل ږغ پورته کړي ځو نړۍ یې واوري.

د دې منشور تر ټولو په زړه پورې خبره دا وه چې هغه د "تیزرفتاره موټر" ستاینه د "ساموتراسي وزر لرونکې" (یوه پخوانۍ یوناني مجسمه) څخه ښه وبلله. دا یو ډول ږغ و چې ویل یې: "پخواني بتان مات کړئ، راتلونکی زموږ دی!" خو زما په اند، د دې منشور یو کمزوری اړخ دا و چې له هنر سره یې سیاست ګډ کړ او وروسته فوتوریزم د فاشیستي نظام له خوا وکارول سو چې دا د هغه د هنري پیغام داغ سو.

خو د دې مانیفست اساسي پیغام د پخوانیو دودونو،  موزیمونو،  کتابتونونو او محافظه کاره فرهنګي ارزښتونو پر ضد بغاوت و. مارینېټي باور درلود چې نوې

نړۍ باید نوی هنر ولري. هغه د ماشین، موټر، الوتکي، صنعت، چټکتیا او ښاري ژوند ستاینه کوله.

دغه وینا د هنري انقلاب یو ډول اعلامیه وه، که څه هم دهغې ځیني افراطي نظریې نن ورخ د نقد وړ ګڼل کیږي خو په خپل وخت کي یې د اروپا هنري فضا ولړزوله او د نوښت لپاره یې لاره هواره کړه.

**مسعود:** فوتوریسم تر ټولو انساني او پرمختللی غورځنګ وو، چې د معاصرې نړۍ په ادب او هنر کې یې ژور بدلون رامنځته کړ. د فوتوریسم نوموتي او مخکښ ادیبان او شاعران څوک ول؟ که د نوموړو د اغیزمنو نښیرونو(اثارو) په تړاو یې یو څه رڼا واچوئ.

**ډاکټر رشاد:** د فوتوریزم تر ټولو مشهور او اغېزناک شخصیت فیلیپو توماسو مارینېتیي (F.T.Marineti)دی،چې نه یوازي شاعر او لیکوال وو، د دې

غورځنګ بنسټګر هم وو.

د هغه تر څنګ الدو پالاتچېسکي (Aldo Palazzeschi)،

انریکو کاواکولي،(Enrico Cavacchioli)

لوکیانو فولګوره(Luciano Folgore )،

(کورادو ګوووني(Corrado Govoni) ،

آردینګو سوفیچي،

(Ardengo Soffici)

د ایتالوي فوتوریزم له مهمو ادبي څېرو څخه شمېرل کېږي.

په روسیه کې بیا(V. Mayakovsky) ولادیمیر مایاکوفسکي (۱۸۹۳ - ۱۹۳۰ ز)،

(V. Khlebnikov) ویکتور خلبنیکوف، (۱۸۸۵-۱۹۲۲)ز

(A.Krotchonykh)  الکسي کروچېنیخ  او ډیوید بورلیوک

«D. Borliouk» د فوتوریستي شعر ستر استازي ول،

او دغو شاعرانو د ژبې، وزن، ترکیب او شاعرانه بیان په برخه کې بې ساري نوښتونه وکړل.

د دوی اثار د دودیزو ادبي چوکاټونو د ماتولو، د نوې نړۍ د روحیې د انځورولو او د ژبې د نویو امکاناتو د موندلو هڅه وه.

مایاکوفسکي یو ستر شاعر و خو د هغه شعرونه د ایټالوي فوتوریستانو په شان یوازې د ماشین ستاینه نه وه بلکې پکښې د انساني احساساتو او عواطفو ژوروالی هم و، په ځانګړې توګه د هغه مینه او درد چې د هغه په وروستیو شعرونو کې ښکاري.

خلبنیکوف بیا د ژبې یو جادوګر و، هغه به نوي نوي لغاتونه جوړول او کروچېنیخ به د شعر په وزن کې دومره تجربه کوله چې ځینې وخت به یې شعر د معمولي پښتو یا فارسۍ غزل په شان خوږ ، موزون او پوهیدونکی او ځینې وخت به ډیر سخت او وزن ماتونکی و. د دوی دا کار د پښتو او فارسي شاعرانو ته هم لاره هواره کړه چې دودیز وزن مات کړي او نوې بڼې تجربه کړي.

**مسعود:** د فوتوریسم د هنري نښیرونو(اثارو)او ادبي ژانرونو ځانګړتیاوې، آرونه او اصول، موخې، اصلي موضوع او مضمون، په کومو ځانګړو ارونو او اصولو، فلسفي او ادبي بنسټونو ولاړ دي؟ که په دې تړاو په لنډه توګه مالومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** د فوتوریزم اساسي موخه د راتلونکي ستاینه او د تېر زمان د سلطې ماتول ول. دوی باور درلود چې هنر باید د عصر د بدلونونو استازیتوب وکړي نه دا چې د تېر وخت تقلید.

د دې مکتب مهم اصول عبارت دي له: د ګړندیتوب ستاینه، د ماشین او ټکنالوژۍ ارزښت، د حرکت انځورول، د نوښت غوښتنه، د دودیزو قالبونو ماتول او د عصري ښار د ژوند انعکاس.

په ادبي لحاظ دوی د نحوي جوړښتونو پر ماتولو، د کلمو پر آزاد استعمال، د ږغونو پر تجربوي کارونه او د ژبي پر نوښتونو ټینګار کاوه.

په هنري برخه کې یې هڅه کوله چې حرکت، انرژي او زمان په یوه واحد انځور کې وښیي.

همدغه ځانګړتیاوي دي چې فوتوریزم یې د شلمي پېړۍ د اوانګارد (نوښتګر) هنر له مهمو مکتبونو څخه ګرځولی دی.

خو زه به دلته یو بل مهم اصل ته اشاره وکړم، هغه د "هممهالوالي

«Simultaneity » دی یعني دا چې دوی غوښتل په یوه شعر یا انځور کې یو

وخت ګڼ حالات، احساسات او مناظر وښیي، لکه څرنګه چې په عصري ښار کې تاسو په یوه وخت کې موټر، خلک، رڼا او ږغ هر څه سره وینئ او اورئ. دوی به

په شعر کې د رياضي نخښې، د موسيقي نوټونه او حتی د ماشينونو ږغونه راوسته ځو هممهال والی پيدا کړي.

په هنر کې به يې د يوې ښځې يا ځېرې ګڼ شکلونه يو پر بل ايښوول لکه هغه انځورونه چې د يو ګام وهونکي چا ګڼې پښې په يو وخت ويني او هغه په حرکت کې وښيي. دا کار د دوی هنر ډېر انرژي لرونکی او پرمختللی ښود خو عادي خلکو ته ځينې وخت ستونزمن و چې په وپوهيږي ځکه دوی د دوديز هنر سره بلد ول.

**مسعود:** د فوتوريسم د سبک مهمې او هنري ځانګړتياوې څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** فوتوريزم تر هر څه مخکي د ځواک، حرکت او چټکتيا هنر دی. که د کلاسيکو مکتبونو هنرمندانو سکون، توازن او ثبات لټاوه خو فوتوريستانو د خوځښت، ولولو(شور)، انرژۍ او بدلون ستاينه کوله او د دوی په اند نړۍ په بېساري چټکتيا بدلېدله او هنر بايد د همدې بدلون هنداره وای.

د فوتوريستي سبک تر ټولو مهمه ځانګړنه دا ده چې د زمان او مکان دوديز حدود ماتوي. په انځورګرۍ کې حرکت په داسي ډول چې په يوه انځور کې يو شی څو ځله رانښکاره کوي څو د انرژۍ او خوځښت احساس پيدا کړي. په شعر کي يې د قافيې، وزن او نحوي اصولو له محدوديتونو څخه د ازادۍ هڅه کوله.

د دې سبک بله مهمه ځانګړنه د ماشين، صنعت، ښار، اورګاډي، موټر، الوتکي او تخنيکي پرمختګ ستاينه ده. په حقيقت کي فوتوريزم د عصري تمدن د رواني او هنري ژبي د موندلو هڅه وه.

"فوتوریستانو د "هممهالۍ (Simultaneity) مفهوم راوړ چې له مخې یې یو هنري اثر باید د یوې شیبې پر ځای د څو زماني او مکاني پوړونو یو ځای والی انځور کړي، چې د دوی د عصر د ګړندي ټیکنالوژیک ژوند انعکاس وي.

**مسعود:** ویل کېږي: د ادب او هنر په نړۍ کې هېڅ هنرمند، که شاعر، نقاش او مجسمه جوړونکي ول، د فوتوریسم د غورځنګ د مخکښانو په څېر، چې له لومړۍ نړیوالې جګړې څو کاله وړاندې پیل شو اغېزمن نه ول. ستاسو په اند د دې لامل دک و دلیل څه وو؟

**ډاکټر رشاد:** د دې علت تر ډېره د زمانې په شرایطو کي نغښتی دی. اروپا د صنعتي انقلاب له لویو بدلونونو سره مخ وه. ښارونه پراخېدل، فابریکې ډېرېدلې، ماشینونه د انسان د ژوند برخه ګرځېدلي وه او د راتلونکي په اړه یوه ځانګړې هڅه موجوده وه.

فوتوریستانو د همدې نوې نړۍ ژبه ومونده. دوی هغه څه بیانول چې د نورو هنرمندانو لا ورته پام سوی نه و. د دوی هنر د خپل عصر له رواني، تخنیکي او ټولنیزو بدلونونو سره مستقیمه اړیکه لرله.

له همدې امله د دوی نظریاتو په اروپا کي د ځوان نسل پام ځانته راواړاوه او د نوښت غوښتونکو هنرمندانو لپاره د الهام سرچینه سوه.

د دې نفوذ بل لامل دا و چې فوتوریستانو له دودیزو اکاډمیکو بنسټونو سره هر ډول همکاري رد کړه او د خپلو نظریاتو د خپرولو لپاره یې د عامه نندارتونونو، تیاترونو او ورځپاڼو څخه کار واخیست چې دا د هنر د وړاندې کولو یوه نوې او اغېزمنه لاره وه

**مسعود:** فوتوریستانو د هنر په ډېرو برخو کې لکه ادب، انځورګري او نقاشي، سینما، عکاسي، تیاتر، موسیقي، معماري، د مجسمې په جوړولو، دلوښي په جوړولو،او ان د پخلی په برخه کې مهم او فعال رول لوبولئ. که د دغو هنرونو د هنرمندانو او مخورو څېرو او نامتو ښیرونو(اثارو) د معرفي او ارزښت په تړاو په لنډه توګه مالومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** فوتوریزم یوازې ادبي غورځنګ نه و بلکي یو بشپړ فرهنګي او هنري حرکت و.

په انځورګری کي اومبرتو بوچیوني (Umbero Boccioni)،

(Giacomo Balla) جاکومو بالا، کارلو کارا

(Carlo Carra)، «Gino Severini» جینو سوریني د دې مکتب مخکښ

استازي ول. دوی د حرکت او سرعت د انځورولو نوي تخنیکونه رامنځته کړل

په موسیقی کي لوئیجي روسولو Luigi Russolo

د ږغونو او ولولو نوې نړی کشف کړه او هغه باور درلود چي د فابریکو، ماشینونو او ښاري ژوند ږغونه هم د موسیقی برخه کېدای سي.

«روسولو» د "ږغونو هنر په نامه (The Art of Noises)( Arte dei Rumori)" یو منشور په (۱۹۱۳)ز کې خپور کړ چې په هغه کي یې د موسیقی د ږغونو لپاره نوي ډولونه تعریف کړل.

په معماری کي(Antonio Sant'Elia) انتونیو سانت الیا د راتلونکي ښار

(Citta Nuova / New City )

تصور وړاندي کړ او د هغه طرحو د عصري معمارۍ پر پرمختګ ژور اغېز پرېښود لکه د لوړو ودانیو او نویو لارو جوړول اوس په نړۍ کې دود دي.

دسانتي الیا طرحو کې د اسمانڅکو ودانیو ، ځینه ایزو لارو او د رڼا او هوا د نوي توزیع مفکورې وې چې وروسته یې باوهاوس او مډرنې معمارۍ په بنسټونو کې ځای وموند.

په تیاتر او سینما کي هم فوتوریستانو د دوديزو فورمونو یا بڼو د ماتولو او د نویو تجربو د رامنځته کولو هڅه وکړه.

همدغه پراخ حضور د دې غورځنګ نړیوال ارزښت څرګندوي.

**مسعود:** پر(۱۹۱۰) زېږديز کال کې د نقاشۍ او مجسمې جوړولو په ډګر کې، ځوان هنرمندان « اومبرتو بوچوني»، « کارلو کارا »، « لوئیجي روسولو »، « جینو سوریني» او « جیاکومو بالا » د «مارینتي» د فوتوریسم غورځنګ سره یو ځای شول. نوموړو هنرمندانو وړاندیز وکړ چې فوتوریسم نه یوازې د ادب او شعر په برخه کې بلکې په نورو برخو کې هم کولای شي پرمختیا او پراختیا ومومي. دغو هنرمندانو د دې غورځنګ د انځورګرانو  او نقاشانو مانیفیست او منشور ولیکه. تاسو د نوموړو هنرمندانو لیدلورى، باور، بنسټیز اند و واند او د هغوى د اغېزمنو نښیرونو (اثارو) ارزښت څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** د (۱۹۱۰)ز کال د انځورګرۍ منشور د فوتوریزم په تاریخ کي یو مهم بدلون ګڼل کېږي. بوچیوني، کارا، بالا، روسولو او سوریني دا احساس کړې وه چي د مارینېتي نظریات باید له ادبیاتو څخه نورو هنرونو ته هم انتقال سي.

د دوی اساسي باور دا و چې هنر باید د ژوند دوامداره خوځښت او انرژي انځور کړي او دوی د طبیعت د جامدو بڼو پر ځای د حرکت او بدلون د انځورولو هڅه کوله.

د دوی آثار ځکه ارزښت لري چې د شلمې پېړۍ د مډرن هنر د تحول لپاره یې نوې لارې پرانیستلې.

وروسته د نړۍ ګڼ شمېر هنري مکتبونه د دوی له تجربو اغېزمن سول.

دغه منشور د انځورګرۍ لپاره شپږ تخنیکي اصول وړاندي کړل لکه:

۱- د حرکت ځرګندول :(Depiction of Movement)

انځور باید حرکت او چټکتیا وښیي نه یو ثابت حالت.

۲- د متحرکو بڼو تکرار :(Repetition of Forms) د یو حرکت بېلابېل پړاوونه په یوه انځور کې تکرارېږي چې د خوځښت احساس رامنځته کړي.

۳- د وخت او فضا یووالی:(Unity of Time and Space)

په انځور کې بېلابېلې بیلابیلې شیبې او زاویې سره یو ځای کیږي چې د حرکت دوام ځرګند سي.

۴- د ځواک او انرژۍ ځرګندونه :

(Expression of Energy and Dynamism)

د کرښو ، رنګونو او جوړښت له لارې د ځواک، چټکتیا او انرژۍ احساس وړاندي کول.

۵- د دودیز واقعیت ماتول( Rejection of Traditional Realism)

فوتوریستانو د طبیعت ساده نقل رد کړ او د نوښت، ماشینونو او عصري ژوند انځورول یې غوره وګڼل.

٦- د عصري ژوند او ټیکناوژۍ ستاینه :(Celebration of Modernity)

موټرونه ، اورګاډي ، الوتکي، فابریکې او صنعتي پرمختګ د دوی دهنر اصلي موضوعات ول ، ځکه دوی چټکتیا او ټکنالوژي د نوي عصر نخښې ګڼلې.

متحرکه شعور" او "د یادونو هممهالي"، چې له مخې یې هنرمند باید د یوې " موضوع د تېر، اوسني او راتلونکي حالتونه پر یوه ځای وښیي او دا د کیوبیزم له جامدو بڼو سره یو مهم توپیر و.

**مسعود:** د مهمو هنري ننښیرونو(اثارو) او کارونو په منځ کې، مشهور آلماني موسیقي پوه او فیلسوف، « اپرای پارسیفال ریشارد واګنر» په اروپایي تیاترونو کې د خپلې هنري ډرامې ښودل پیل کړل. د فوتوریسم د ننښیرونو(اثارو) لومړنی مهم نندارتون د فبروري په (۲۴) پر (۱۹۱۲) زیږدیز کال کې د پاریس په «برنهایم» په ګالري کې جوړ شو. مهرباني وکړئ د دې تیاتر د ننداریې او د نندارتون د موخو، مقاصدو او پیغام په اړه لنډ معلومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** د (۱۹۱۲)ز کال نندارتون د فوتوریزم د نړیوال شهرت د پیل ټکی ګڼل کېږي. دغه نندارتون په پاریس کي جوړ سو او د اروپا هنري محفلونو ته یې وښودله چي فوتوریزم یوازې یو نظریاتي بحث نه دی بلکي عملي هنري لاسته راوړني هم لري.

د نندارتون اصلي پیغام د حرکت، چټکتیا، صنعتي تمدن او هنري نوښت ستاینه وه او فوتوریستانو غوښتل وښیي چي هنر باید د ژوند له روان بهیر سره ملګری وي.

دغه نندارتون د اروپا د هنري فضا د بدلون یو مهم فصل وګرځېد او د مډرن هنر په تاریخ کې ځانګړی ځای لري.

د دې نندارتون بل ارزښت دا و چې د کیوبیزم په څېر غالب مکتب سره یې د فوتوریزم توپیرونه روښانه کړل، په داسې حال کې چې کیوبیزم جامد اشیاء له بېلابېلو زاویو څخه ښودل خو فوتوریزم په خپلو آثارو کې ځانګړی متحرک خیال او رواني انرژي پرېښووده چې د فرانسوي کره کتونکو پام یې ځانته راواړاوه.

**مسعود:** پر(۱۹۱۳)زېږدیز کال کې ایټالوي لیکوال، انځورګر، مجسمه جوړونکی، شاعر « آردنګو سوفیچی » د ځوان «پاپیني» شاعر او لیکوال سره یو ځای د "لاچېربا" مجله د فوتوریسم غورځنګ د سبک په ملاتړ او ودې لپاره جوړه کړه. د دې خپرونې موخه او پیغام څه وُ؟

**ډاکټر رشاد:** لاچېربا مجله (Lacerba )

د فوتوریستي افکارو د خپرولو لپاره یوه مهمه فکري او ادبي وسیله وه.

(Ardengo Soffici) آرډینګو سوفیچي او(Giovanni Papini) جیوواني پاپیني غوښتل چې د نویو هنري نظریاتو لپاره یوه ازاده فضا رامنځته کړي

دغه مجله د دودیزو ادبي ارزښتونو پر ضد د بحثونو مرکز وګرځېده او د فوتوریستانو لیکنې، ویناوې ، شعرونه او فکري مقالې پکښې خپرېدلې.

د دې مجلې تاریخي ارزښت په دې کې دی چې د شلمې پېړۍ د اوانګارد ادبیاتو(نوښتګرو ادبیاتو )او هنر د ودې لپاره یې مهم رول ولوباوه او د ایټالیا د فرهنګي بدلونونو یو فعال مرکز وګرځېد.

دغه مجله یوازې فوتوریستي مطالب نه خپرول بلکې د ایتالیا او اروپا د نورو مخکښو هنرمندانو او روښاندو لیکنې یې هم پکښې ځایولې چې د یوې نړیوالې ادبي شبکې د جوړولو هڅه وه او د "لاچېربا" نوم یې د یوناني افسانوي مخلوق څخه اخیستی و چې د نوي هنر د نژدې والی سمبول و.

**مسعود:** د فوتوریسم تګلوری او سبک نامتو او پېژندل شوي هنرمندان او لارویان لري. لکه: «فیلیپو توماسو مارینتي»، « اومبرتو بوچیونی »، « کارلو کارا»،

جاکومو بالا »، « جینو سوریني »، « لوئیجی روسولو ، »، « آنتونیو سانت الیا»، « بندتا کاپا» او نور...

تاسو د دغو سترو هنرمندانو، د ادبي او هنري شخصیتونو په اړه او د دوی د نښیرونو (اثارو) د معرفي او ارزښت په تړاو خپل اند او لید راسره شریک کړئ.

**ډاکټر رشاد:** د فوتوریزم د غورځنګ ارزښت تر ډېره د هغو شخصیتونو په برکت لوړ سوی دی چي د خپل وخت له دودیزو چوکاټونو څخه یې سرغړونه وکړه او د

مارینېتي(F.T.Marineti) د دې غورځنګ فکري او ادبي رهبر و خو بوچیوني

(Umberno Boccioni)د انځورګرۍ او مجسمه جوړوني په برخه کي هغه

هنرمند و چي د حرکت فلسفه یې په عملي بڼه انځور کړه.

(Giacomo Balla)جاکومو بالا د رڼا، حرکت او انرژۍ د انځورولو په برخه کي

نوښتګر و.

(Carlo Carra)کارلو کارا د فوتوریستي انځورګرۍ له مهمو څېرو څخه شمېرل

کېږي، چې د رنګونو د مات سوي تخنیک،(Divisionism) له لارې فوتوریزم

ته بنسټ ورکړ .

هنر لپاره يې نوي افقونه پرانيستل.

(Ginormous Severini)، جينو سوريني د عصري ښاري ژوند د انځورگر په توگه شهرت لري.

(Luigi Russolo) لوئيجي روسولو بيا په موسيقۍ کي انقلاب راوست او هغه د صنعتي تمدن ږغونه د هنر برخه وبلل.

(Antonio Sant'Elia)انتونيو سانت اليا د راتلونکي ښارونو د معمارۍ تصور وړاندي کړ چي وروسته د مدرنې معمارۍ پر بهير يې ژور اغېز وکړ.

د دغو ټولو هنرمندانو گډ ارزښت په دې کي دی چي هنر يې له تېر زمان څخه را وايست او د راتلونکي پر لور يې سوق کړ.

دې هنرمندانو ته کله کله "د فوتوريزم نهه سواره" هم ويل کېږي، ځکه چې دوی د (۱۹۱۰ز)کال په فبروري کې يوځای د "فوتوريستي انځورگرۍ تخنيکي «مانيفيسټ» لاسليک کړ. خو په دې کې يو مهم څوک، "اومبرتو بوچيوني (Umbero Boccioni) تر ټولو ډېر د فوتوريزم فلسفي بنسټ جوړولو کې کوښښ وکړ او يو کتاب يې "د فوتوريستي انځورگرۍ تخنيکي «مانيفيسټ» وړاندې کړ، چې پکښې يې د "پرله پسې حالتونو" او "د حافظې د انځورونو" تيوري تشريح کړه. دغه تيوري وروسته د کيوبيزم له "تکثر ليد" سره پرتله کېږي خو بوچيوني ټينگار کاوه چې د هغه طريقه د يو شي د بېلابېلو اړخونو پر ځای، د هغه د "رواني او فزيکي شتون" يوځای انځورول دي.

**مسعود:** پر (۱۹۱۱)زېږدیز کال کې "مارینتي"، «د فوتوریسم د ډرامې د لیکوالو بیان» تر سرلیک لاندې یوه بیانیه خپره کړه او د فوتوریسم په ارونو او اصولو کې یې د تیاتر د نړۍ د ګډون په اړه خپل لید څرګند کړ. تاسو د دې بیانیې د منځپانګې، سکالو او پیغام په اړه څه لید لرئ؟

**ډاکټر رشاد:** فوتوریستانو باور درلود چې تیاتر باید د ژوند د سرعت او بدلون استازیتوب وکړي. د ۱۹۱۱ کال وینا د همدې موخې لپاره خپره سوه څکه دوی غوښتل چې د دودیز تیاتر اوږدې او درنې صحنې له منځه یوسي او پر ځای یې لنډ، چټک او اغېزناک هنري بیان رامنځته کړي.

د دې وینا اساسي پیغام دا و چې تیاتر باید د عصري انسان د ژوند له وزم (ریتم) سره برابر وي. د حیرانتیا، نابېروالی یا ناڅاپیتوب او هنري تجربې توکي (عناصر) باید زیات سي.

د معاصر تیاتر په تاریخ کي د دغو نظریاتو اغېز وروسته په بېلابېلو هنري مکتبونو کي څرګند سو.

(Synthetic Theatre)یا ترکیبي تیاتر

د فوتوریستي سنتېز (Futurist Sythesis) د وینا بنسټ کښېښود.

چې پکښې به یوه صحنه کې څو بېلابېل ځایونه او وختونه یوځای ښودل کیدل او لنډې صحنې وې. فوتوریستانو دې ته "هممهاله ډرامه" ویل. دوی دودیز کرکټرونه له منځه یووړل او پر ځای یې "شمېرې" یا "نخښې" رامنځته کړې، لکه د "یو چټک موټر" یا "یو روښانه څراغ" چې پخپله د یوه کرکټر په توګه عمل کوي.

دا نظریه وروسته د برتولټ برېښت په "حماسي تیاتر" او انتونن آرتو "د ظلم تیاتر" کې بیا راژوندۍ سوه ځکه چې دواړو هم د تماشا کوونکو فعاله ونډه او هم د کیسې غیرخطي وړاندې کول غوښتل.

**مسعود:** که څه هم د ایټالیا فوتوریسم یو پیاوړی ملي اړخ درلود، خو دا غورځنګ یوازې په ایټالیا که نه، بلکې په اروپا کې په بېلابېلو نومونو یې خپل کار او فعالیت ته دوام ورکړ. په لهستان (پولند) کې «فورمیسم یا زوُیسم»، په اسپانیا کې «ویبراسیونیسم» ، په انګلستان کې «وریتسیسم»، په مکسیکو، بلجیم، مرکزي اروپا او ان امریکا او جاپان کې «ستریدنتیسم» په نومونو خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ. که د دغو غورځنګونو د لاسته راوړنو په تړاو په پورتنیو بېلابېلو هیوادونو کې په لنډه توګه مالومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** فوتوریزم ډېر ژر له ایټالیا څخه بهر هم خپور سو. په انګلستان کي د (Vorticisme)،«ورتیسیزم» په نوم، په اسپانیا کي (Vibrationisme) «ویبراسیونیسم» په نوم، په پولنډ کي د(Formisme)،«فورمیزم»

یا(Zonisme) زونیزم په نوم او په مکسیکو کې (Stridentisme)

د ستریدنتیزم په نوم او په لاتیني امریکا کي د بېلابېلو اوانګاردي (نوښتګرو)

خوځښتونو په بڼه راڅرګند سو.

که څه هم دغو خوځښتونو هر یو خپل ځانګړي خصوصیات لرل خو ټول د نوښت، تجربې او عصري ژوند د ستاینې پر محور راڅرخېدل.

د دوی تر ټولو ستره لاسته راوړنه دا وه چې هنر یې له محلي محدودیتونو څخه راوایست او نړیوال هنري افقونه یې ورته پرانیستل.

په روسیه کې فوتوریزم دوې نورې ځانګړې بڼې خپلې کړې چې د "اګوفوتوریزم" او "کوبوفوتوریزم" په نوم یادېږي او د هغو مشهور شاعر

( Vladimir Mayakovsky)ولادیمیر مایاکوفسکي او ایګور سویریانین

(Igor Severyanin ) ول، چې په کوبوفوتوریزم کې مایاکوفسکي

د فوتوریستي شعرونو ترڅنګ د "جامدو بڼو یا شکلونو" او "تیزو کرښو" انځورونه هم کښل او په ایګوفوتوریزم کې بیا ایګور سویریانین و

خو تر ټولو مهم په المان کې د "ډیرې لیوالتیا" یا (Expressionisme)، «اکسپرسیونیزم» غورځنګ له فوتوریزم څخه ډېر څه واخیستل، په تېره بیا

د "ښاري ژوند اضطراب" انځورولو کې. بیا هم، الماني هنرمندانو د ایټالوي فوتوریستانو له "ماشیني خوشبینۍ" څخه ډډه وکړه او د صنعت تیاره اړخونه یې ښودل لکه "د جګړې ویجاړي" او "رواني فشار". دا توپیر وروسته د دوو نړیوالو جګړو ترمنځ د اروپایي ذهنیت د بدلون نخښه وه.

**مسعود:** د فوتوریسم یو له نوموتو او مهمو برخو څخه « فوتودینامیزم »دی چې په عکاسي کې ورته نغوته شوې ده. ښه به وي که تاسو د دې برخې د هنرمندانو لاسته راوړنې او باورونو او د دې سبک د مخکښانو د پیژندل شویو شخصیتونو د نشیرونو(اثارو) او مهمو او نامتو نندارتونونو په تړاو په لنډه توګه مالومات وړاندې کړئ.

**ډاکټر رشاد:** فوتودینامیزم(photodynamism) د فوتوریستي عکاسۍ یو مهم

مکتب دی چې د حرکت د ثبتولو لپاره رامنځته سو او د دې سبک هنرمندانو هڅه کوله چې د انسان یا شی د حرکت بېلابېل پړاوونه په یو تصویر کي ځای کړي.

دوی باور درلود چې عکاسي باید یوازې د یوې شیبې ثبت نه وي بلکې د حرکت، انرژۍ او زمان جریان هم وښيي نو له همدې امله د فوتودینامیزم عکسونه تر ډېره د متحرکو شکلونو او پرله پسې خوځښت احساس لري.

دغه تجربې وروسته د سینما، بصري هنرونو او معاصرې عکاسۍ پر پرمختګ هم اغېز وکړ.

د فوتودینامیزم تر ټولو مهم استازی (Anton Giulio Bragaglia)

«انتون جولیو براګاګلیا» و، چې یو ایټالوي عکاس و او هغه د "فوتودینامیزم مانیفیسټ" په (۱۹۱۱)ز کال کې خپور کړ. براګاګلیا د "پرله پسې عکس اخیستنې" تخنیک کاراوه چې په یو رول فلم کې به یې په چټکۍ سره څو عکسونه واخیستل او بیا به یې هغه یو بل پورې نښلول چې یو متحرک انځور جوړ سي. دا تخنیک د سینماد (Slow Motion) او (Motion Blur)،«موشن بلر» اغېزو مخکښ و. د ده یو مشهور اثر "په غورځېدو «روان سپی» دی، چې پکښې د سپي څلور پښې او لکۍ په یو وخت کې په بېلابېلو حالتونو کې ښکاري او دا د حرکت د "پرله پسې والي" یوه غوره بېلګه ده.

**مسعود:** پر (۱۹۸۸)زېږدیز کال کې، د امریکا په «شیکاګو» کې د تیاتر په هنر کې نوی فوتوریسم (نیوفوتوریسم) رامینځته شو. تاسو د دې سبک د هنرمندانو لیدلوري، باورونه او د دوی مهم او نامتو او پېژندل شوي نندارتونونه څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** (Neo - Futurism) نیوفوتوریزم د اصلي فوتوریزم مستقیم تکرار نه دی بلکې د هغه له ځینو اصولو څخه الهام اخیستونکی معاصر هنري جریان دی. دا بهیر په ځانګړي ډول د شیکاګو په تیاتري چاپېریال کې وده وکړه.

نیوفوتوریستان د ژوند د ورځنیو تجربو، طنز، سرعت او معاصرو ښاري واقعیتونو پر هنري بیان ټینګار کوي. دوی هڅه کوي چې د نندارچیانو او هنرمند ترمنځ واټن راکم کړي.

که څه هم د دوی لیدلوری د شلمي پېړۍ له فوتوریستانو سره توپیر لري خو د نوښت، تجربې او د هنري قالبونو د ماتولو روحیه پکښي لا هم ژوندۍ ده.

نیوفوتوریزم (۱۹۸۸)ز کال د «ګرګ الن»، (Greg Allen )

په نوم د شیکاګو د تیاتر ډایرکټر او لوبغاړي له خوا رامنځته سو او د هغه مشهوره

ننداره "Too Mach Light Makes the Baby Go Blind "

(۳۰ Plays in ٦۰Minutes) ده.

د دې ننداري لپاره د هغه فلسفه دا وه چې تیاتر باید غیرخیالي

(non- illusory)وي، په دې معنی چې لوبغاړي باید ځانونه وښیي او له لیدونکو

سره په رښتني وخت او ځای کې اړیکې پیدا کړي. د ده تر ټولو مهم نوښت د

ګډون کوونکي تیاتر(Participatory Theatre)مفهوم و چې پکښې تماشاچیان

له صحنې سره یوځای کېږي او کیسه یې د هغه د شخصي تجربو له مخې دوی د بېلابېلو وختونو(Different Eras)یا پلورالیزم « Pluralism in Theatre»

اصطلاحات کاروي یعني په یوه ننداره کې کېدای سي چې څو کیسې په یو وخت کې رواني وي او هر تماشاچي یوازې یوه برخهویني. دا د پخواني فوتوریزم له "هممهالوالي" سره ورته والی لري خو نیوفوتوریستانو دا نظریه د ټولنیزو اړیکو او

ورځني ژوند د پیچلتیا د انځورولو لپاره کارولې ده نه د ماشیني سرعت د ستاینې لپاره.

**مسعود:** تاسو د «نیوفوتوریستانو» لید توګي، اندونه او باورونه له «فوتوریستانو» سره څنګه پرتله کوئ؟

**ډاکټر رشاد:** پخواني فوتوریستان د ماشین، صنعت، سرعت او تخنیکي تمدن د ستاینې استازي ول. هغوی د راتلونکي د جوړولو لپاره له پخوانیو ارزښتونو سره ښکاره مخالفت درلود.

خو نیوفوتوریستان تر ډېره د معاصر انسان پر ورځني ژوند، ټولنیزو اړیکو او ښاري تجربو تمرکز کوي. دوی د سیاست او ایډیالوژۍ پر ځای د هنري تجربې او د ژوندي ارتباط ارزښت ته لومړیتوب ورکوي.

په بل عبارت، پخوانی فوتوریزم د صنعتي انقلاب زېږنده و خو نیوفوتوریزم د رسنیز یا اطلاعاتي او ښاري تمدن محصول دی.

یو بل بنسټیز توپیر د "وخت" په مفهوم کې دی. پخوانیو فوتوریستانو وخت ته

(Linear) د یوه "خطي"  او پرمختلونکي(Progressive) بهیر په توګه کتل،

چې هر شی پکښې باید ژر تر ژره بدل سي او راتلونکی د تېر څخه غوره دی. خو

نیوفوتوریستانو د "حلقوي وخت (Circular Time)یا (Repetitive Time)

یا "تکراري  وخت "مفهوم رامنځته کړ چې پکښې ورځني کارونه، عادتونه او ټولنیزې بیلابیلې تجربې تکرارېږي او معنا پکښې د تکراري شیبو له لارې

جوړېږي. دوی په خپلو نندارو کې د "تکرار (Repetition)"  او "ورځني ژوند"

(Everyday Life) په قصدي ډول کاروي څو وښيي چې راتلونکې يوازې يو ليرې هدف نه دی بلکې همدا اوس، په همدې شيبه کې، زموږ د ورځني ژوند په کوچنيو کړنو کې پروت دی.

**مسعود:** فوتوريسم په ایټاليا کې د شلمې پيړۍ په لومړيو کې يو له نوموتو مهمو هنري غورځنګونو څخه دی چې په فلسفه کې ريښې لري او په سياست يې اغيز درلود. د فوتوريسم غورځنګ يوازينی مکتب وو، چې په سياسي مسايلو او مباحثو کې يې برخه درلوده. تاسو د دې ښونځی د فلسفي ريښو په رڼا کې د هغوی سياسي موخې، اندونه او باورونه څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** فوتوريزم د شلمي پېړۍ له هغو نادرو هنري مکتبونو څخه دی چې سياست ته يې ښکاره لېوالتيا لرله. فوتوريستانو د ځواک، عمل، ملي وياړ او ټولنيز بدلون مفکورې ستايلې.

په پيل کي د دوی موخه د ټولني او فرهنګ عصري کول ول خو وروسته د غورځنګ ځينو غړو د توندو ملتپالو او افراطي سياسي نظرياتو ملاتړ وکړ.

د همدې سياسي تمايلاتو له امله د فوتوريزم نوم کله ناکله له فاشيزم سره هم تړل کېږي، که څه هم د دې غورځنګ ټول غړي پر يوه سياسي دريځ ولاړ نه ول.

د تاريخ له نظره د فوتوريزم هنري لاسته راوړني تر سياسي فعاليتونو خورا مهمي او تلپاتي پاته دي.

د فوتوريزم سياسي فلسفه د "فريډريش نيچه " (Friedrich Nietzsche)

د خپلې ارادې ځواک (Will to Power) نظريې او د "جورج سوريل

(Georges Sorel) د «ټولنیزې افسانې (Social Myth)، له مفکورې سره نژدې اړيکې لري. فوتوريستانو باور درلود چې جګړه د ټولنې د "پاکولو" او "نوي کولو" لپاره يو ضروري عنصر دی، او همدا باور و چې دوی يې د موسوليني له فاشيست ګوند سره نښلول. خو په دې کې يوه مهمه باريکي سته: مارينېټي پخپله تر (۱۹۲۰)ز کال پورې د فاشيزم سره مستقيم اړيکی نه درلودې او حتی په (۱۹۱۸)ز کال کې يې يو "فوتوريستي سياسي ګوند" جوړ کړ، چې له فاشيزم څخه جلا و. وروسته کله چې موسوليني واک ته ورسېد، مارينېټي د هغه ملاتړ وکړ خو تل يې هڅه کوله چې د فوتوريزم هنري خپلواکي وساتي.

د تاريخ پوهان په دې باور دي چې که فوتوريزم له فاشيزم سره نه وای تړل سوی نو نن به يې هنري ارزښت ډېر لوړ وئ خو همدا سياسي اړيکی د دې لامل سو چې د دوهمې نړيوالې جګړې وروسته د ډېرې مودې لپاره د فوتوريزم هنر له پامه لويدلی و او يوازې په (۱۹۶۰)ز کلونو کې بيا کشف سو.

**مسعود:** ويل شوې دي: «مارينتي» چې يو له مهمو فوتوريستانو څخه وو، پر (۱۹۱۸)زېږديز کال کې يې د فوتوريستانو سياسي ډله جوړه کړه. له جوړېدو يو کال وروسته دا ډله له «موسوليني» د «ملي فاشيست ګوند» سره يوځای شوه او د «موسوليني» له لومړنيو ملاتړو څخه شوه. تاسو د «مارينتي» او د هغه د ډلې د سياسي اندونو او ليدتوګو په اړه څه اند لرئ؟ ولې او دکومو موخو لپاره «مارينتي» او د هغه ډله د «موسوليني» سره لېوالتيا درلوده؟

**ډاکټر رشاد:** د فوتوريزم د تاريخ له تر ټولو جنجالي اړخونو څخه يو هم دمارينېټي سياسي فعاليتونه دي. مارينېټي باور درلود چي د ټولني د عصري کېدو لپاره يوازي هنري بدلون بسنه نه کوي بلکي سياسي بدلون هم ضروري دی. له همدې امله

يې په (۱۹۱۸)ز کال کې د فوتوریستانو سیاسي غورځنګ جوړ کړ. هغه د ځواک، تحرک، ملي یووالي او چټک بدلون پلوی و. کله چې موسولیني د ایټالیا په سیاسي ډګر کې راڅرګند سو، مارینېټي د هغه په سیاستونو کې د خپلو ځینو آرمانونو انعکاس ولید نو له همدې امله هغه او د فوتوریستانو یوې برخې د موسولیني ملاتړ وکړ.

خو د تاریخ له نظره باید د فوتوریزم هنري لاسته راوړني له سیاسي تمایلاتو څخه بېلې وڅېړل سي. د دې غورځنګ هنري ارزښتونه تر سیاسي نظریاتو ډېر دوامداره او اغېزمن ثابت سوي دي.

"مارینېټي یوازې په (۱۹۱۸)ز کال کې سیاسي ډله جوړه نه کړه بلکې هغه له ۱۹۱۹ کال راهیسې د موسولیني د "فاسسي دي" کومباتیمېنټو

(Fasci di combattimento ) سره نژدې اړیکي درلودې او حتی د (۱۹۲۱)ز کال

په ټاکنو کې د فاشیستي ګوند د نوماندانو ملاتړ یې وکړ خو د تاریخ یو لړ پېژندل سوې حقیقت دا دی چې مارینېټي په (۱۹۲۴)زکال کې د موسولیني پر ضد یو "هنري اعلامیه" خپره کړه چې پکښې یې د فاشیستي رژیم د محافظه کارۍ او د هنر د سانسور غندنه وکړه. همدارنګه د ده سیاسي فکر د « جورجو سوریل »

( Georges Sorel)، (فرانسوي ټولنیز مفکر او فیلسوف )له انقلابي

سنډیکالیزم څخه اغېزمن و چې د ځواک او افسانوي عمل پر اهمیت یې ټینګار کاوه. دا هغه اړخونه دي چې په عامه تاریخي روایتونو کې ډېر کم ورته اشاره سوې ده.

**مسعود:** ویل کېږي: د فوتوریسم غورځنګ په ایټالیا کې د فاشیزم د پیدایښت یو له ریښو څخه وو. تاسو د هغې لامل، دک و دلیل او انګیزه څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** دا خبره تر یوه حده تاریخي بنسټ لري خو باید په احتیاط سره وڅېړل سي. فوتوریستانو د ځواک، عمل، جګړې، ملي غرور او بدلون ستاینه کوله چې دغه فکر وروسته د فاشیستي سیاست په ځینو برخو کي هم راڅرګندي سو.

خو باید هېر نه کړو چي فوتوریزم تر هر څه مخکي یو هنري او فرهنګي غورځنګ و او د دې مکتب ټول غړي د فاشیزم پلویان نه ول او ځینو یې وروسته له دغو سیاسي لارو څخه واټن پیدا کړ.

نو ځکه ویلای سو چي د فوتوریزم ځیني مفکورې د فاشیستي تفکر له ودې سره مرسته کړې خو فوتوریزم او فاشیزم په بشپړه توګه یو شی نه دي.

د فاشیزم بنسټګر موسولیني پخپله د فوتوریزم څخه په (۱۹۱۰)ز کال لسیزه کي اغېزمن سوی و خو وروسته یې د فوتوریزم ډېرې انقلابي برخې (لکه د پاچاهۍ ضد او د کلیسا ضد فکر) له خپل سیاست څخه لیرې کړل.

تاریخپوهانو لکه "زېو سټرن (Zeev Sternhell)"ثابته کړې چي فوتوریزم د فاشیزم له اعلامیو سره سره د "أنارشیزم" او "لېبرال دیموکراسۍ" پر ضد هم و چي دا توپیرونه اکثراً له پامه غورځول کېږي.

برسېره پر دې، فوتوریزم د "تېکنالوژۍ" او "ماشین" پلوی و، په داسې حال کي چي فاشیزم په خپل وروستي پړاو کي د "خاورې او وینې (Blood and Soil) " په څېر محافظه کارو مفکورو ته مخه کړه.

د فوتوریزم دننه هم یوه جلا ډله چي "دوومو" یې بلله، د فاشیزم سخت مخالف ول او دوی یې د "بورژوایي عکس العمل" په نوم یاداول.

**مسعود:** د فوتوریسم مکتب په «روسیه» کې په کوم کال کې د چا لخوا، کله او چیرته جوړ شو. د دې ښوونځي اصلي بنسټ ایښودونکي څوک ول؟ مهرباني وکړئ د دوی د لید توګو، اندونو او باورونو په اړوند مالومات ورکړئ.

**ډاکټر رشاد:** روسي فوتوریزم د شلمي پېړۍ د دوهمې لسیزې په پیل کې راپیدا سو او ډېر ژر یې د روسي ادبیاتو او هنر په تاریخ کي ځانګړی ځای خپل کړ. که څه هم ایټالوي فوتوریزم د دې غورځنګ لومړنۍ الهام بخښونکې سرچینه وه خو روسي فوتوریستانو ډېر ژر خپل مستقل هویت پیدا کړ.

د دې بهیر له لومړنیو بنسټ اېښودونکو څخه،(D.Borliouk)داؤد بورلیوک،

، (V.Kamenski)واسیلي کامېنسکي، (E.Krotchonykh)الکسي کروچېنیخ (V.Khlebnikov)ویلیمیر خلبنیکوف یادېدای سي. وروسته ولادیمیر مایاکوفسکي هم د دې مکتب له سترو استازو څخه وګرځېد.

روسي فوتوریستانو تر ایټالوي فوتوریستانو ډېر پر ژبه، شعر او ادبي نوښتونو تمرکز درلود.

د روسي فوتوریزم یو مهم پړاو د ۱۹۱۳ کال د "ببړۍ غوږ

(The Ear of the Ark) "په نامه د یو تیاتر د تولید له امله و چي پکښې

د فوتوریستي شعر او انځورګرۍ ترکیب وړاندې سو. د دې غورځنګ د پیدایښت لپاره یو بل مهم فکتور د ایټالوي فوتوریستي منشور ژباړې وې، چي د «پېترو

باربیل»، (Pietro Barberbile) لخوا روسي ته وژباړل سوې او د مسکو او

سن پترزبورګ هنرمندان یې اغېزمن کړل. برسېره پر دې، روسي فوتوریستانو د

ایټالویانو په خلاف«هیډونېزم»،(Hedonism)، (لذت پالنه) او «فردیت»

(Individualism)ته لږ ارزښت ورکاوه او زیات یې د ژبې د "مادي" ماهیت، (Materiality متېریالیتي) په اړه بحث کاوه. دوی د "هنر د ټولنیز کولو" ( The Socialization of Art)نظریه هم مطرح کړه چي وروسته یې د شوروي پر جوړښتیز (Constructivism) غورځنګ اغېز وکړ.

**مسعود:** د فوتوریسم ښوونځی د روسیې په ادبیاتو کې لوی اغیز پریښود. دې مکتب د اکتوبر انقلاب (۱۹۱۷)زېږدیز کال د مخه د روسیې په شعر کې اغېز کړی وُ. خو د اکتوبر د انقلاب په جریان کې په زړه پورې چاپیریال د هغې د ودې لپاره ښه زمینه شوه، او دا توپیر د دې لامل شو چې د روسیې فوتوریسم د ایټالوي فوتوریسم څخه په بشپړه توګه بېله لاره غوره کړي. په روسیه کې، فوتوریسم د «اګوفوتوریسم» او «کوبو فوتوریسم» په (۲) څانګو ویشل شوی وُ. مهرباني وکړئ د دې دواړو څانګو د بنسټ ایښودونکو د لیدتوګو، اندونو او باورونو او د هغوی د معتبرو او نامتو ښېرونو(اثارو) او لاسته راوړنو په اړه معلومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** په روسي فوتوریزم «Rusian Futurism» کې بېلابېل

ادبي او هنري جریانونه موجود ول. د ایګو فوتوریزم او کوبوفوتوریزم نومونه د دوی د فکري او هنري څانګړنو له امله ورکول سوي دي.

۱- (Ego-Futurism) ایګو فوتوریزم :

د (Ego) "ایګو " معني زه یا فردي ځان ده.

- دا مکتب د شاعر شخصیت، انفرادیت، عواطفو او احساساتو او ځان څرګندوني ته ډېر ارزښت ورکوي.

- يعني د "زه" او فردي هويت پر محور څرخي.

۲ - کيوبو فوتوريزم (Cubo-Futurism) :

«کيوبو» د(Cubism)څخه اخيستل سوی دی .

دا ډله د کيوبيزم د هندسي بڼو او د فوتوريزم د حرکت، چټکتيا او نوښت نظريې سره يو ځای کوي.

په ادبياتو کې د ژبې نوې تجربې، د دوديزو قواعدو ماتول او نوي شاعرانه بڼې رامنځته کوي.

اگوفوتوريزم د (Igor Severyanin)، ايگور سويريانيـن په مشرۍ راپيدا سو.د دې ځانگي پيروانو د فرديت، شخصي تجربو او شاعرانه احساساتو ارزښت ته ډېره پاملرنه کوله. دوی د شاعر ځانگړی شخصيت د هنري پنځوني مرکز باله.

کوبوفوتوريزم بيا د خلبنيکوف(Khlebnikov)،(Mayakovsky)مايا کوفسکي

(Burluik)بورليوک او(Krotchonykh) کروچېنيخ له خوا رهبري کېدی. دغې ډلي د ژبي پر جوړښت، د کلمو پر نوښت، د شاعرۍ پر تجربوي بڼه او د ادبي قالبونو پر ماتولو ډېر ټينگار درلود. په حقيقت کي کوبوفوتوريزم د روسي فوتوريزم تر ټولو اغېزمنه او تاريخي ځانگه گڼل کېږي.

اگوفوتوريزم يوازې يوه لنډمهاله څانگه وه چي د (۱۹۱۱)ز څخه تر (۱۹۱۴)زکال پورې يې فعاليت وکړ او دسويريانيـن (Severianine)تر څنگ يې نور غړي لکه

ايوان ايگناتيف(Ignatiev ) او اوليمپوف

(Olimpov)هم ول.

د دې ډلې يو مهمه ځانګړنه دا وه چې دوی  " د موسيقي شاعری" او "سندرغاړي" ته ډېر ارزښت ورکاوه او خپل شعرونه يې په عامه محفلونو کې په سندره ييز سبک لوستل او په ترنم يې ويل . په مقابل کې کوبوفوتوريستانو د "کلمې د تخريب" يا زاوم(Zaum)نظريه مطرح کړه او هڅه يې کوله چې دوديز نحوي جوړښتونه ونړوي. د (۱۹۱۴)ز کال د جګړې په پيل سره، اګوفوتوريزم عملاً ختم سو او سويريانيـن له روسيې څخه وتښتېد خو کوبوفوتوريزم بيا د انقلاب تر (۱۹۱۷)زکال پورې او تر هغه وروسته هم د شوروي د لومړنيو هنري ازموينښتونو بنسټ وګرځېد. د دواړو ترمنځ يو بل مهم توپير دا و چې اګوفوتوريستانو د "ښکلا" او "خوښی" پلوي کوله، خو کوبوفوتوريستانو بيا د "تاوتريخوالي يا زور زياتي" او "د بنې د بدلون" ستاينه يې هم کوله.

**مسعود:** « ولاديمير ماياکوفسکي» د روسيې د معاصر شعر يو له سترو شخصيتونو څخه وو. هغهٔ د فوتوريسم د ښوونخی په چوکاټ کې نوې انقلابي شاعرانه موندنه وړاندې کړه. هغه د «خلبنيکوف» سره يو ځای د فوتوريسم د غورځنګ تر ټولو فعال او اغيزمن استازی شو.که د دغو علمي-فرهنګي ستو، هڅو هاندو، لوړو ښبيرونو (اثارو) او ليدلورو  په اړه لنډه شننه وکړئ.

**ډاکټر رشاد:**(Mayakovsky)ماياکوفسکي د شلمي پېړۍ د روسي شعر له سترو نوښتګرو څخه دی. هغه نه يوازي شاعر و بلکي د خپل عصر د ټولنيزو او فکري بدلونونو فعال ګډونوال هم و.

د هغه شعرونه له ځواک، احساس، اعتراض او انقلاب څخه ډک دي. ماياکوفسکي هڅه کوله چې شعر له دوديزو چوکاټونو څخه آزاد کړي او د نوي عصر ژبه ورته ومومي.

د«پرتوګ اغوستې وريځ» (A cloud in Trousers)، (۱۹۱۵) :

د مينې ،انقلاب اودردونو ډير قوي او مشهور شعر.

«د شمزۍ شپيلۍ»(The Backbone Flute)، (۱۹۱۵):

دروحي کړاونو شاعرانه بيان.

جګړه او نړۍ ( War and the World) ،(۱۹۱۷):

د جګړې ضد او ټولنيز انتقادي شعرونه.

۱۵۰مليونه(۱۵۰٬۰۰۰٬۰۰۰)،(۱۹۲۱) : يو انقلابي اوږد شعر د ټول ولس په اړه دی.

ښه ده(۱۹۲۷)( Good/Fine ):

سياسي شعر او د شوروي انقلاب ستاينه ده.

د خپل ږغ پر څوکه(At the Top of My Voice)، (۱۹۳۰):

د هغه د وروستيو ډيرې قوي سياسي- شاعرانه ويناوي دي.

ډرامې يې:

د راز طنز (Mystery-Bouffe) :

سياسي طنزې ډرامه د انقلاب په اړه.

شپږه يا د بستر حشره )(The Bedbug)،(۱۹۲۹):

ټولنيز فساد او د بورژوا ژوند طنز.

حمام (The Bathhouse):

پر شوروي بيروكراسي سخت طنز.

په ځېر آثار يې د روسي ادبياتو له مهمو اثارو څخه شمېرل کېږي.

ماياكوفسكي د روسي فوتوريزم هغه څېره ده چې د ادبي نوښت او ټولنيز شعور ترمنځ يې ځانګړی تعادل رامنځته کړی دی.

ماياكوفسكي د شاعرۍ ترڅنګ يو تکړه ډرامه ليکونکی او سينمايي هنرمند هم و. "هغه کله چې په (۱۹۱۸)زکال د "مستري بوف" په نامه يوه فلمي سناريو وليکه په هغه کي لوبغاړی هم و. د هغه د وروستيو ليکنو څخه د "حمام"

(The Bathhouse) په نامه طنزي ډرامه ده، چې پکښې د شوروي

پر بيوروکراسۍ سخته نيوکه کوي. د هغه د ځان وژنې لپاره يوه نظريه دا ده چې هغه د "هنرمند او دولت" ترمنځ د نه حل کېدونکي مخالفت قرباني سو يعنې هغه غوښتل چې انقلابي وي خو سره له دې هم خپل هنري ازادي وساتي چې په شوروي نظام کي ممکنه نه وه. د ده تر مړينې وروسته ستالين اعلان وکړ چې ماياكوفسكي "د شوروي عصر تر ټولو غوره شاعر" و، خو د هغه اعتراضي شعرونه يې د کلونو لپاره له درسي کتابونو څخه ليرې کړل.

**مسعود:** تاسو د روسيې په معاصر شعر کې د «ويکتور وليمير خلبنيکوف» علمي او ادبي شخصيت، او د هغهٔ مهم او ګټور نبښيرونه (اثار)څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** ويل کېږي: چې ويليمير خلبنيکوف (Velimir Khlebnikov) د روسي فوتوريزم تر ټولو ژور فکره او نوښتګر شاعر بلل کېږي. هغه د ژبې د

امکاناتو د پراخولو لپاره بې ساري هڅي وکړې. د ده په اند شاعر باید د نویو کلمو، نویو جوړښتونو او نویو ژبنیو اړیکو موندونکی وي.

خلبنیکوف د «زاوم» یا ماورایي ژبي له نظریې سره شهرت لري. هغه باور درلود چي ژبه باید یوازي د مانا وسیله نه وي بلکي خپله د هنري کشف موضوع هم وګرځي. د ده آثار که څه هم کله ناکله ستونزمن ښکاري خو د معاصرې شاعرۍ پر تحول یې ژور اغېز کړی دی.

خلبنیکوف د ژبپوهنې سربېره د ریاضي او تاریخ په اړه هم ډېر لیکلي دي. هغه د «جګړې او سولې جدول » (Tables of Destiny) په نامه یو اثر لري چي په کښې تاریخي پېښو ترمنځ د (۳۱۷) کلونو دورې محاسبه کوي او د نړۍ د راتلونکو جنګونو وړاندوینه کوي چي ځینې یې د هغه له مړینې وروسته ریښتیا هم ختلې. د ده یو بل مهم اړخ دا دی چي هغه د "سلاوي افسانې" او "زرتشت" له فلسفې څخه ډېر اغېزمن سوی و او هڅه یې کوله چي د روسي ژبې لرغوني ریښې د نویو کلمو په جوړولو کي وکاروي. د ده له پاتې سویو لیکنو څخه څرګندېږي چي هغه غوښتل یوه نړیواله ژبه جوړه کړي چي ټول انسانان په هغه خبرې وکړي خو دا پروژه یې نیمګړې پاته سوه. د ده اغېز یوازې په روسیه کي نه بلکي په چکي، پولنډي او جرمني فوتوریستانو باندې هم پراخ دی.

**مسعود:** «خلیبنیکوف» ویلې دي: «شعر امکان لري د پوهیدو وړ وي او امکان لري د پوهیدو وړ نه وي، خو په دواړو حالاتو کې باید ښه او له حقیقت څخه ډک وي.» تاسو په دې اړه څه لید لرئ؟

**ډاکټر رشاد:** زه فکر کوم چي خلبنیکوف دلته د شعر د ژور هنري ماهیت خبره کوي. هر هنري اثر د دې اړتیا نه لري چي سمدستي او په بشپړه توګه د

لوستونکي له خوا درک سي. کله کله لوی هنر  وخت، تأمل او فکر کولو ته اړتیا لري.

خو که شعر هر څومره پېچلی وي باید یو ډول هنري صداقت او دننني حقیقت ولري او هغه اثر چې یوازې د ابهام لپاره مبهم وي چې څوک په پوه نه سي ارزښت نه ساتي خو هغه شعر چې د انساني تجربې ژور حقیقت انځور کړي که څه هم پیچلی او ستونزمن وي بیا هم خپل ارزښت ساتي.

له همدې امله د خلبنیکوف دا خبره د معاصر هنر د فلسفې یوه مهمه څرګندونه بلل کېدای سي.

د خلبنیکوف دا نظریه د (۱۹۱۰) لسیزې د هنري اونټولوژي (Ontology)

«هستي پوهنې» یوه برخه ده چې د هغه وخت د روسي "فورمېلیستانو"

( Formalists) او "سمبولیستانو"  (Symbolists)  ترمنځ د اختلاف له امله

راپیدا سوه. خلبنیکوف د" فکر وړ"(Thinkable / Conceivable)

او "نامفهوم"( Incomprehensible  / Unintelligible,)

ترمنځ دوه ګوني حالت نه د یوې نوي شاعرانه "امکان"(Possibility)

په توګه ګوري، هغه باور درلود چې شعر باید د لوستونکي ذهن"فعال"

(Active)کړي   نه دا چې یوازې یو غیرفعال  (Passive) پیغام ورکړي.

د دې نظر یوه فلسفي بنه وروسته د "روسي فورمالېستانو" لکه "رومن

یاکوبسن(Roman Jakobson) چې د ژبني دندو (Function of Language)

په نظریه مشهور دی، له خوا پراخه سوه چي ویلي یې دي: "شعر هغه ژبه ده " چي د خپل ځان په اړه فکر کوي." خلبنیکوف د "حقیقت" پر مفهوم په افلاطوني ایډیال(Platonic Ideal) باندي نه،بلکي د "هنري ادراک" (Artistic Perception) خبره کوي یعنې هغه حقیقت چي د منطق (Logic) پر ځای د احساس او وجدان له لارې درک کېږي.

دا نظریه د نن ورځې د "تجربي شاعري (Experimental Poetry)او حتی د "هیپ هاپ"(Hip Hop) او " سپوکن وډ" (Spoken Word) په څېر هنرونو کي هم د پام وړ اغېز لري، ځکه چي هلته هم ږغ ، ریتم او جوړښت له دودیزې معنا څخه ډېر مهم ګڼل کېږي.

**مسعود:** روسي فوتوریستانو او انځورګرانو په خپلو بحثونو کې څرګنده کړه، چې ادب د انځورونو او ایماژونو هنر نه دی، بلکې د کلمو هنر دی. تاسو په دې اړه څه اند لرئ؟

**ډاکټر رشاد:** دا د روسي فوتوریستانو او وروسته د روسي فرمالیستانو له بنستیزو نظریو څخه وه او دوی باور درلود چې د ادبیاتو اصلي ماده ژبه ده نه هغه کیسې او پېښې چي ژبه یې بیانوي.

د دوی په اند شاعر او لیکوال باید تر هر څه مخکي د کلمو له هنري امکاناتو سره کار وکړي.

البته زه فکر کوم چي ادب هم د کلمو هنر دی او هم د تصویر، احساس او تخیل. کلمې د ادبي اثر لومړنۍ وسیله ده خو وروستۍ موخه یې د معنوي او

تخیلي نړۍ رامنځته کول دي نو له همدې امله د روسي فوتوریستانو دا نظر د ادبي تیورۍ په تاریخ کې مهم مقام لري خو د ادبیاتو ټول ماهیت نه راڅرګندوي.

د دې خبرې علمي ژوروالی په دې کې دی چې د کلمو هنري امکانات که څه هم د ادب بنسټ دی خو د معنا رامنځته کېدل د لوستونکي په ذهني کلتوري چوکاټ او د متن د لوستلو په شرایطو پورې هم اړه لري چې د لوسنونکي د کره کتنې غبرګون(Reader-response criticism)او د ژبې د عملي استعمال

(Pragmatics)په رڼا کې لا روښانه کیږي.

له همدې امله د نړۍ په ادبي دودونو کې په ځانګړې توګه د ختیځو ادبیاتو لکه پښتو، فارسي او عربي کې، د "معني" او "مضمون" ارزښت له "لفظ" سره د تلپاتې تعادل په توګه پاته سوی خو راډیکاله فوتوریستي نظریه چې ادب یوازې کلمو ته راکښته کوي بیا د ادب ټول نور اړخونه لکه حسي او عاطفي غبرګون، کلتوري حافظه او تخیلي امکانات نه سي پوښلی.

**مسعود:** د روسي فوتوریستانو او د هغوی په اصلي غړو کې «ویکتور اشکلوسکي» ، چې د جنوري په ۱۸ پر (۱۸۹۳)زېږدیز کال کې په «سنټ پیترزبورګ» کې زیږیدلی، «بوریس توماچیفسکي»، چې د نومبر په ۲۹ پر (۱۸۹۰)ز کال کې په «سنټ پیټرزبورګ» کې زیږیدلی او «ولادیمیر پروپ»، چې د اپریل په ۱۷پر (۱۸۹۵)ز کال کې زیږیدلی دی. ډیری یې د داستاني جوړښت په برخه کې فعال ول، پداسې حال کې چې په نورو ادبي اثارو کې یې هم کار کاوه. د دغو لیکوالو د لاسته راوړنو، د نښیرونو (اثارو) او مهمو شهکارونو په اړه څه لید لوری لرئ؟

**ډاکټر رشاد:** ویکتور شکلوفسکي(Viktor Shkilovsky) د روسي فرمالیزم له بنسټ ایښودونکو څخه دی. د هغه تر ټولو مشهور مفهوم «آشنايي ماتونه» یا اشنا شی نااشناکول(Defamiliarization ) دی. ده ویل چې هنر باید عادي شیان په نوي او ناآشنا ډول وړاندي کړي څو انسان د ژوند له عادي توب څخه راویښ کړي.

(Boris Tomashevsky) بوریس توماچیفسکي د روسي فورمالیزم له مهمو ادبي تیوریسنانو څخه و چې د ادبي جوړښت، روایت او شعري فورم په باب یې ژوري څېړني وکړې. د هغه مهم آثار دادي:

د ادب تیوري(Poetry)( Theory of Literature)(۱۹۲۵ ز) :

د ادبي تیورۍ او شعر په اړه.

د متن پیژندني په اړه(Textology) :(۱۹۲۸)ز (The Writer and the Book)

د شعر دجوړښت ، وزن او هنري ځانګرنو په اړه: (On Poetry)

د هغه آثار د معاصري ادبي تیورۍ په پرمختګ کي مهم رول لري.

(Vladimir Propp)ولادیمیر پروپ بیا د فولکلور او افسانو د جوړښت په برخه کي د هغه مشهور اثر نړیوال شهرت لري.

«د افسانې مورفولوژي»، (Mythological Morphology)

د روایت پېژندني په تاریخ کي یو له اغېزمنو اثارو څخه ګڼل کېږي.

دغو درې واړو د ادبیاتو د علمي څېړني لپاره نوې لارې پرانیستلې.

د دغو درې واړو پوهانو ترټولو ستر علمي خدمت دا و چې دوی د ادبي اثر د "بڼې

(Form) (فورم)   او "جوړښت Structure) د مطالعه کولو له لارې  ادبیات

له فلسفي او تاریخي حاشیو راوایستل او د یوې خپلواکې علمي څانگې حیثیت یې ورکړ.

د پروپ د افسانوي وظایفو کشف نه یوازې د ادب بلکې د فلم، اعلاناتو او

د کمپیوټر د کیسه ویلو(Storytelling) په برخه کې هم د یو بنسټیز جوړښتي

ماډل په توگه کارول کېږي.

شکلوفسکي د ادبي کره کتنې سربېره د شوروي سینما د سناریو لیکلو په برخه کې هم فعال و او توماچیفسکي د "شعري ژبې" د جوړښتونو تحلیل داسې علمي کچه ته ورساوه چې نن ورځ د کمپیوټري ژبپوهنې لپاره هم گټور تمام سوی دی.

**مسعود:** په روسیې کې د اکتوبر له انقلاب (۱۹۱۷)ز کال څخه وروسته دوه نور مهم او اغېزمن غورځنگونه د فوتوریسم له زړه څخه راڅرگند شول، «سوپره ماتیسم» او «کانستراکتویسم».مهرباني وکړئ د دې دواړو څانگو د بنسټ ایښودونکو د لیدتوگو، اندونو او باورونو او د هغوی د معتبرو نښیرونو(اثارو) په اړه معلومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** سوپرماتیزم(Suprematism) د کازیمیر مالویچ

(Kazimir Malevich)له خوا رامنځته سو. د دې مکتب اساسي موخه دا وه

چې هنر له طبیعي تقلید څخه آزاد کړي او سوچه هندسي بڼو ته ارزښت ورکړي.

د مالویچ مشهور اثر «تور مربع»(Black Square)  د همدې تفکر سمبول گڼل

کېږي.

کانستراکتیویزم(Constructivism) بیا تر ډېره د ولادیمیر تاتلین

(Vladimir Tatin) او ال لیسیڅکي (El Lissitzky)له نومونو سره تړاو لري.

د دې مکتب پیروانو هنر د ټولني د عملي اړتیاوو د پوره کولو وسیله بلله. دوی غوښتل چې هنر له ورځني ژوند، صنعت او تولید سره ونښلوي.

سوپرماتیزم د سوچه هنر استازیتوب کاوه خو کانستراکتیویزم د عملي او ټولنیز هنر پلوی و.

دواړه خوځښتونه د شلمي پېړۍ د مدرن هنر له سترو فصلونو څخه دي.

که څه هم دواړه خوځښتونه د "تجرید"(Abstraction) په نوم یو عامه ځانګړتیا لري خو د دوی فلسفي بنسټونه او وروستۍ لاسته راوړنې یو له بل سره خورا توپیر لري. سوپرماتیزم د اروپایي تجریدي هنر، لکه واسیلي کانډینسکي (Wassily Kandinsky ) تر اغیز لاندې و، خو

کانستراکتیویزم د باوهاوس(Bauhaus)د جرمني د هنر ، معمارۍ او ډیزاین مشهور مکتب او نړیوالې معمارۍ پر وده ژور اغېز وکړ او د "فنکشنالیزم (Functionalism) مفهوم یې راوپاراوه.

په ۱۹۲۰مه لسیزه کې د دواړو مکتبونو ترمنځ بحثونه په دې پای ته ورسېدل چې د شوروي حکومت د (Constructivism)کانستراکتیویزم ملاتړ وکړ ځکه چې صنعتي او تبلیغاتي اړخونه د سټالین د پرمختیایي پلانونو سره همږغي ول خو وروسته دواړه د "بورژوایي فورمالیزم" په تور وځپل سول او سوسیالیست رئالیزم یې ځایناستي سو.

**مسعود:** «ایخن باوم»، «یوري تن یانو» او "وینوګراډو"، دا د روسیې هغه نامتو لیکوال دي، چې د روسي فورمولیسم د سبکي جوړښتونو په برخه کې یې ډېره هڅه کړېده. هر یو یې د معتبرو او نامتو نښیرونو(اثارو) خاوندان دي. ښه به وي که د دغو ادبی او فرهنګی شخصیتونو د اندونو، لیدتوګو، باورونو او د هغوی د نوموتو نشیرونو(اثارو)په تړاو لنډ معلومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** (Boris Eikhenbaum)بوریس ایخنباوم د ادبي کره کتنې او ادبي تیورۍ له مهمو څېرو څخه دی. هغه د ادبي متن د خپلواک ارزښت دفاع کوله او باور یې درلود چې ادبي اثر باید د خپل هنري جوړښت له مخې وارزول سي.

(Yury Tynianov)یوري تینیانوف د ادب تاریخ او ادبي تحول په باب نوې نظریې وړاندي کړې. هغه ادبیات یو متحرک نظام باله چې د زمانې له بدلونونو سره بدلیږي.

(Viktor Vinogradov)ویکتور وینوګراډوف د سبک پېژندني او ژبني تحلیل په برخه کي ستر خدمتونه کړي دي. د ده څېړنو د ادبي سبکونو د علمي مطالعې بنسټونه نور هم پیاوړي کړل.

د دغو پوهانو ګډه لاسته راوړنه دا وه چې ادبیات یې د علمي څېړني موضوع کړه.

"ایخنباوم "د روسي فرمالیزم د تیورۍ تکامل

(The Evolution of the Theory of Russian Formalism)

تر نامه لاندې خپل اثر کې د فرمالیزم د تاریخي پړاوونو یوه منظمه کره کتنه وړاندې کړه او د ادبي کره کتنې لپاره یې یوه خپلواکه میتودولوژي

( Methodology)جوړه کړه.

تینیانوف د "ادبي تکامل"(Literary Evolution) تیوری له مخې ثابته کړه

چې ادبي بدلونونه د ټولنیزو بدلونونو عکس العمل نه بلکې د ادبي سیستم د داخلي جوړښت د سستوالي یا نوښت پایله ده کوم چې د جوړښتي (ساختماني) " ژبپوهنې"(Structural Linguistics) ارزښت (Value) مفهوم سره ورته والی

لري.

وینوګراډوف بیا د سبک پېژندنې په برخه کې دومره دقیق کار وکړ چې د هغه

طریقه د نن ورځې د متني ژبپوهنې (Corpus Linguistics) له مخې د ستاینې

وړ ده، او د هغه "ژبنی شخصیت"(Linguistic Personality)

یا ژبنی سبک او هویت مفهوم وروسته د فورنزیک ژبپوهنې

(Forensic Linguistics) یا حقوقي ژبپوهنې لپاره اساس وګرځېد.

**مسعود:** د روسي فوتوریستانو په منځ کې، "رومن یاکوبسون" (د اکتوبر په ۱۱، پر ۱۸۹۶ زیږیدلی - د جولای په ۱۸، پر ۱۹۸۲ مړ شوی) ترټولو نړیواله څیره او د روسیې د فوتوریسم یو له مخکښو بنسټ ایښودونکو څخه دی. هغه یو روسي ژبپوه او ادب پوه وو. نوموړی د ژبپوهنې په برخه کې د پراګ ښوونځي له بنسټ ایښودونکو څخه هم دی. مهرباني وکړئ د هغهٔ د اندونو، لیدتوګو او باورونو او نښیرونو(اثارو) د ارزښت په تړاو خپل مالومات را سره شریک کړئ.

**ډاکټر رشاد:** رومن یاکوبسن (Roman Jakobson) د شلمي پېړۍ تر ټولو اغېزمنو ژبپوهانو او ادبي نظریه‌پوهانو څخه دی. هغه د پراګ د ژبپوهنیز مکتب له بنسټګرو څخه شمېرل کېږي او د جوړښتي یا ساختماني ژبپوهنې

(Structural Linguistics) په وده کي يې ستر رول لوبولی دی.

یاکوبسن د ژبي د اړیکو، شعري ژبي او ادبي ارتباط په باب مهمي نظریې وړاندي کړې.

ده د «ژبني ارتباط شپږ عوامل» (The Six Factors of Communication)

او د ژبې شپږ دندې(Six Functions of Language) بیان کړې دي،

چې «شعري دنده»(Poetic Function ) ډیره مهمه ده او مفاهیم یې تر

اوسه د ادبي تیورۍ بنسټیز بحثونه ګڼل کېږي.

د یاکوبسن ستره ځانګړنه دا وه چې ادبیات، ژبپوهنه او کلتوري مطالعات یې سره ونښلول او د معاصرو انساني علومو لپاره یې نوې لارې پرانیستلې.

یاکوبسن د خپل ژوند په وروستیو لسیزو کې د نیوروژبپوهنې

(Neuro-linguistics)یا عصبي ژبپوهنې په برخه کې هم مهم کار وکړ او

په ځانګړي توګه د(Aphasia) "افازیا" یا ژبني اختلال "

(Language Disorder) په اړه یې هغه نظریې چې د استعارې (د غوراوي محور)

او مجاز (د ترکیب محور)

ترمنځ یې توپیر روښانه کړ، د دماغ د چپ او ښي نیمګړي ژبني د فعالیت پوهېدو

لپاره یې بنسټ کښیښود.

د هغه فکري ساحه دومره پراخه وه چې د کلود لیوی-شتراس

(Claude Levi- Straus) فرانسوي بشرپوه (Anthropogist) د جوړښتي

انسانپوهنې(Structural Anthropology)، رولان بارت

(Roland Barthes) ، (۱۹۸۰-۱۹۱۵)ز د فرانسوي ادبي کره کتونکی

او فیلسوف د نخښو پېژندنې(Semiotics) او جاک لیکان

(Jacques Lacan) (۱۹۰۹ -۱۹۸۰ ز) د فرانسوی ارواشنونکې

(Psychoanalyst)(چې زګموید فروید یې له نوې زوایې تفسیر کړ)

لپاره یې نظري وسایل چمتو کړل او نن ورځ د نړۍ په غوره پوهنتونو کې د هغه اثار د ژبپوهنې، ادبیاتو او کلتوري مطالعاتو د نصاب لازمې برخې دي.

**مسعود:** روسي فورمالیستانو، د ادبی ډولونو او څېلونو، لکه: ډرامو، شعرونو، لنډو کیسو او ناولونو او رومانونو په تړاو څه لید درلود؟

**ډاکټر رشاد:** روسي فرمالیستانو باور درلود چي هر ادبي ژانر خپل ځانګړی هنري جوړښت او قوانین لري. دوی د ژانرونو ارزښت د موضوع له مخي نه بلکي د تخنیک، بڼې (فورم) او جوړښت له مخي ټاکه.

د دوی په اند د شعر ارزښت په شاعرانه ژبه کي دی، د ناول ارزښت په روایتي جوړښت کي دی او د ډرامې قوت د صحنې او عمل په تنظیم کي نغښتی دی.

همدغه لیدلوری وروسته د معاصر روایت پېژندني، سبک پېژندني او ادبي نقد پر وده ژور اغېز وکړ.

د فرمالیستانو د ژانرونو دغه جوړښتي لیدلوری وروسته د میخایل باختین

(Mikhail Bakhtin) د "کرونوټوپ"(Chronotope) (وخت-ځای)

(time - space) مفهوم سره یوځای سو او د ژانرونو د تاریخي تکامل په اړه یې

نوي بحثونه رامنځ ته کړل. دوی دا هم وښوده چې د ادبي ژانرونو ترمنځ پولې تلپاتې نه دي او کله چې یو ژانر خپل هنري امکانات پای ته رسوي د نورو ژانرونو له عناصرو سره یوځای کېږي (لکه "کراس-ژانر" ادبیات)

(Genre - crossing literature)کوم چې نن ورځ په عصري ناولونو، فلمونو او ډیجیټل رسنیو کې په پراخه کچه لیدل کېږي. د فرمالیستانو دې تګلارې د نړۍ په ادبي کره کتنه کې د "ژانر تیوري(Genre Theory)

(د ادبي ژانرونو ماهیت، جوړښت او ټولنیز رول)او په ځانګړي توګه «د وینا ژانرونه» (Speech Genres) لپاره یو علمي بنسټ کښېښود چې تر اوسه پورې د ادبي او رسنیز نقد یا کره کتنې یوه لازمه برخه ده.

**مسعود:** «یوګني اونه ګین» نښیر(اثر)، د روسي لیکوال او شاعر «پوشکین» یو له نوموتو شهکارونو څخه دی. روسي فوتوریستانو او د هغوی له ډلو څخه "اشکلوسکي" د دې نامتو نښیر(اثر) د هنري اړخونو په اړه څه اند درلود؟

**ډاکټر رشاد:** فرمالیستانو( Eugene Onegin) «یوګین اونه ګین» یوازې د یوې عاشقانه کیسې په توګه نه لید بلکې دوی د دې اثر هنري جوړښت، روایتي تخنیکونه، ژبني نوښتونه او د بیان ځانګړی سبک څېړه.

(Viktor Shklovsky)شکلوفسکي په ځانګړي ډول دې ته متوجه و چې (Alexander Pushkin)الکساندر پوشکین څنګه د روایت بهیر تنظیم کړی او څنګه یې عادي پېښې په هنري بڼه بدلې کړې دي.

د فرمالیستانو له نظره د دې اثر عظمت یوازې په محتوا کي نه بلکي په هنري جوړښت او ادبي مهارت کي هم نغښتی دی.

د فرمالیستانو دغه تحلیلي طریقه د دې لامل سوه چې د پوشکین د دې اثر مطالعه له ساده مضموني نقد څخه پورته سي او د هغه شعري جوړښت، د روایت د بدلون ټکی او د نظم او نثر ترمنځ د یوځای کېدنې هنري ځواک وځېړل سي. دوی دې پایلې ته ورسېدل چې د "یوګین اونه ګین" اصلي جادو په دې کې دی چې لوستونکی د کیسې د پایلې څخه نه بلکې د کیسې د ویلو له لارې او د هغې د ژبنۍ موسیقۍ څخه خوند اخلي. نن ورځ د پوشکین د دې اثر په اړه نړیوال

انتقادي بحثونه لا هم د فرمالیستانو د دغو بنسټیزو مفکورو پر بنسټ روان دي او

دا اثر د یو "خپلواک هنري جوړښت"(Autonomous Artistic Structure)

(لکه شعر ، ناول او نقاشي ) په توګه د ادبي نړۍ یوه بېلګه پاته سوې ده.

**مسعود:** "میخأیل لاریانوف"، "ناتالیا ګونچاروا"، "الکساندرا اکستر" او "کازیمیر مالویچ" د هغو روسي انځورګرانو له ډلو څخه ول، چې د روسي فوتوریستانو بیانیه یې خپره کړه. د دې بیانیې موخه، لید لوری، منځپانګه، مضمون او پیغام څه وُ. هیله ده که تاسو د دې هنرمندانو او انځورګرانو د هنري او ادبي شخصیوتونو او د هغوی د هنري او نامتو نښیرونو (اثارو) په اړه لنډه رڼا واچوئ.

**ډاکټر رشاد:** دا ټول د روسیې د اوانګارد(نوښتګر) هنر له سترو استازو څخه دي. میخاییل لاریونوف(Mikhail Larionov) او (Natal Goncharva)ناتالیاګونچاروا

د روسي فولکلور، عصري هنر او فوتوریستي تجربو ترمنځ نوی پیوند رامنځته کړ.

الکساندرا اکسټر (Aleksandra Ekster)د رنګونو، حرکت او صحنوي ډيزاين په برخه کې نوښتونه وکړل او د اروپا د مدرن هنر له مهمو څېرو څخه وګرځېده.

کازيميرمالويچ (Kazimir Malevich)بيا د سوپرماتيزم ستر بنسټګر و. د هغه آثار د تجريدي هنر په تاريخ کې ځانګړی مقام لري.

د دغو هنرمندانو مشترکه ځانګړنه دا وه چې د هنر دوديز حدود يې مات کړل او د معاصر بصري(ليدونکي) هنر لپاره يې نوي امکانات رامنځته کړل.

د دغو هنرمندانو ستره لاسته راوړنه دا وه چې دوی روسي هنر له اروپايي مدرنيزم سره ونښلاوه او د "تجريد"(Abstraction)له لارې يې د هنر نړيواله ژبه پراخه

کړه خو د دوی ترمنځ د پام وړ توپيرونه هم سته: لاريونوف او ګونچاروا د روسي کليسايي هنر او فولکلور څخه الهام اخيست او مالويچ د لويديځ مدرن هنر (لکه

کانډينسکي) څخه اغېزمن و او يو فلسفي-روحاني سيستم

(Philosophical - Spiritual System)

يې جوړ کړ او «الکسندرا اکسټر» د ایټالوي فوتوريزم د "تحرک" مفهوم سره يوځای او رنګينه فضا يې جوړه کړه. د دوی اثار نن ورځ د نړۍ په غوره موزيمونو

لکه تريتياکوف ګالري(Tretyakov Gallery)، (مسکو) او «MOMA»

(نيويارک) کې ساتل کېږي او سره له دې چې د شوروي واکمنۍ د دوی ډېر اثار د "بورژوايي انحطاط" په تور له منځه يووړل خو د دوی فکري ميراث د معاصر هنر په اکاډميکو نصابونو او نړيوالو هنري جريانونو کې تر نن ورځې پورې ژوندی پاته دی.

**مسعود:** پر (۱۹۱۴)ز او (۱۹۱۵)ز کلونو کې د فوتوریستو انځورگرانو ډېرى نښیرونه(اثار) جگړییز او اتلوال لرلید لري. مهرباني وکړئ د دې پېر د فوتوریستانو د نښیرونو(اثارو) د بېلگو په اړه لنډ معلومات وړاندې کړئ چې د جگړې ستاینه یې کړې وي. او دا هم راته وویاست چې ولې دغو فوتوریستانو داسې نښیرونه(اثار)پنځولي دي؟

**ډاکټر رشاد:** د شلمي پېړۍ په لومړیو کلونو کي د اروپا سیاسي فضا له بېلابېلو بحرانونو، ملتپالو او پوځي سیالیو څخه ډکه وه. فوتوریستانو او په ځانگړې توگه ایټالوي فوتوریستانو جگړه د بدلون، تحول او د زړو جوړښتونو د نړولو یوه وسیله بلله. مارینېټي آن جگړه « دنړۍ یوازینی پاکوونکی څواک» بللې وه. له همدې امله د (۱۹۱۴)ز او (۱۹۱۵)زکلونو په آثارو کي د پوځونو حرکت، د وسلو قوت ، د ماشینونو انرژي او د جگړې ږوږ(شور) ډېر څرگند لیدل کېږي.

د بوچیوني، کارا او بالا په ځینو آثارو کي دغه تمایل په ښکاره محسوسېږي خو د دوو نړیوالو جگړو تر ناورینونو وروسته بشري ټولني وښوده چي جگړه د تمدن او انسانیت لپاره تر گټې ډېر زیان لري. له همدې امله نن ورځ د فوتوریستانو دغه لیدلورى تر جدي نقد لاندي دی.

د ایټالوي فوتوریزم مشر فیلیپو تومازو مارینېټي په خپل "فوتوریستي مانیفیسټ" (۱۹۰۹) کې په ښکاره توگه جگړه د "نړۍ یوازینۍ حفظ الصحه" بللې وه چې دا

د هغه د فردریش نیچه(Friedrich Nietzsche) د ایلیټېزم (Elitism)

د تفکر څرگندونه کوي. د (۱۹۱۵-۱۹۱۴)ز کلونو آثار لکه د "اومبرتو بوچیوني "

د مړینې د چارج" او "د لانچا د رشوت" انځورونه، د ماشینونو او حرکت د ستاینې ترڅنگ د جگړې د وحشت ناڅرگنده انځورونه هم لري، که څه هم فوتوریستانو

هغه د "سپورت" او "پهلوانۍ" په توګه تعبیرول خو د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته کله چې دوی خپله په هغې کې برخه واخیسته او ډېری یې ووژل سول (لکه بوچیوني په «۱۹۱٦»ز کال کې)نو د دوی خوشبیني کمه او د دې مکتب دننه هم جګړه پاله ږغونه کمزوري سول. نن ورځ تاریخپوهان د فوتوریزم دا اړخ د هغه د "تیوریکي تېروتنې" په توګه ګڼي چې د هنر او سیاست د ناسم ترکیب یوه بېلګه ده

**مسعود:** که څه هم فوتوریسم یو لنډ مهاله ښوونځی وه او یوازې د (۱۹۰۹)ز او (۱۹۱٥)ز کلونو ترمنځ یې دوام درلود، خو هغه یو اغیزمن مکتب وو، چې په اروپا کې یې ډېری شاعران، لیکوال او انځورګران ځانته را کش کړل او په عصري او مدرن ادب او هنر کې یې ژور بدلون راوست. تاسو په عصري او مدرن ادب او هنر کې د پرمختیا او ژور بدلون په برخه کې د دې مکتب د اغیزمنتیا لاملونه او دک و دلیل څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** د یوه مکتب ارزښت تل د هغه د عمر په اوږدوالي نه سنجول کېږي بلکي د هغه د اغېزو په ژورتیا اندازه کېږي. فوتوریزم که څه هم لنډمهالی و خو د هنر په نړۍ کي یې فکري زلزله رامنځته کړه. دغه مکتب د نوښت، تجربې، هنري ازادۍ او د راتلونکي د لټون مفکوره عامه کړه. فوتوریستانو هنرمندانو ته دا جرئت ورکړ چي د پخوانیو قالبونو د ماتولو هڅه وکړي. له همدې امله د دادایزم، سوریالیزم، کانستراکتیویزم، سوپرماتیزم او ګڼو نورو اوانګاردي(نوښتګرو) خوځښتونو پر رامنځته کېدو یې مستقیم او غیرمستقیم اغېز پرېښود. فوتوریزم تر ټولو لومړی اروپایي نوښتګر خوځښت و چې د "مانیفیسټ" یا منشور له لارې یې خپل نظریات عام کړل او دا طریقه وروسته دادایستانو، سوریالیستانو او حتی د (۱۹٦۰) مو کلونو پاپ آرټ پورې وکاروله.

د فوتوریزم بل ستر میراث د "تجزیه سوي فورم" او "د حرکت هممهاله" مفکورې وې، چې سیده یې د کوبیزم پر وده اغېز وکړ او د پیکاسو او براک په آثارو کې لیدل کېږي. همدارنګه د فوتوریستانو د ټایپوګرافي او د کلمو د ازادۍ ترتیب (Parole in libertà) نوښتونه، د نن ورځې د ګرافیک ډیزاین، اعلاناتو او حتی د ویب پاڼو د ډیزاین بنسټونه دي. له همدې امله که څه هم فوتوریزم د یو منظم مکتب په توګه پای ته ورسېد خو د هغه تخنیکي او فکري آثار د نن ورځې د هنر او رسنیو په هر ګوټ کې ژوندي دي.

**مسعود:** تاسو د اکسپرسیونیسم او فوتوریسم د معمارۍ او نقاشۍ په برخه کې د دوی د هنري سبک د توپیر او د ګډو ټکو په اړه څه اند لرئ؟ مهرباني وکړئ د دغو دوو ښوونځیو د معمارۍ او نقاشۍ د سبک، د نوموتو هنرمندانو او د هغوی د هنري نښیرونو(اثارو) د ځانګړتیاوو په اړه لنډ معلومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** اکسپرسیونیسم او فوتوریزم دواړه د شلمي پېړۍ د مدرن هنر مهم خوځښتونه دي خو د دواړو لیدلوري سره توپیر لري. اکسپرسیونیستان د انسان پر داخلي احساساتو، روحي اضطرابونو او عاطفي تجربو تمرکز کوي او د دوی هنر تر ډېره د انسان د باطني نړۍ انځور دی. خو فوتوریستان بیا د بهرنۍ نړۍ، ماشین، سرعت، ښار او حرکت ستاینه کوي. هغوی د راتلونکي او تخنیکي تمدن د روحیې استازي دي. سره له دې توپیرونو، دواړه مکتبونه د دودیز هنر په وړاندي راپاڅېدلي او د نوښت او تجربې پلویان ول. اکسپرسیونیسم (چې مشران یې اډوارډ مونک او وازلي کاندینسکي دي) د هنر د داخلي حقیقت په لټه کې و او رنګونه یې د احساساتو د انتقال لپاره کارول، په داسې حال کې چې فوتوریزم د بهرني عیني حقیقت (لکه د موټر سرعت یا د فابریکې ږوږ) د ښودلو هڅه کوله.

خو دواړو مکتبونو د "خط" او "رنګ" دوديز رول مات کړ: اکسپرسيونيستانو کړې او اغراقې بڼې کارولې او فوتوريستانو بيا د يوه شي د بېلابېلو حرکتونو هممهاله انځور (لکه د يو چا پښې چې څو ځله انځورېږي) دود کړ. په معمارۍ کې

اکسپرسيونيزم د عضوي بڼو(Organic form) او خامو موادو

(Rough materials) (لکه د پوستکي په څير) (Skin - like texture / surface)

پلوي ول خو فوتوريزم د ښيښې، فولاد(Glass and Steel) او افقی کرښو

(Horizontal lines) (لکه د فنلند معمار اليل ساريننEliel Saarinen طرحو)

غوښتونکی ول چې وروسته د آرت ديکو(Art Deco) د (۱۹۲۰- ۱۹۳۰) لسيزو يو

هنري او معماري سبک او مدرنې معمارۍ (Modern Architecture) چې د شلمي پيړۍ له منځ څخه پيل سو بنسټ وګرځېد.

**مسعود:** په ټوليز ډول، د سورياليزم او فوتوريسم د اصلي انګېزو او هڅونو ترمنځ نږدېوالی شتون لري، چې د دوی د هنرمندانو په کارونو، تګلورو او سبکونو کې ليدل کيدی شي. تاسو په دې اړه څه ليد لرئ؟ ښه به وي که د دغو دوو ښوونځيو د معمارۍ او نقاشۍ د سبک، د نوموتو هنرمندانو او د هغوی د هنري ښنيرونو(اثارو) د ځانګړتياوو په اړه خپل مالومات راسره شريک کړئ.

**ډاکټر رشاد:** که څه هم سورياليزم او فوتوريزم له بېلابېلو فکري سرچينو راټوکېدلي خو دواړه د هنري انقلاب استازي دي. فوتوريستان د راتلونکي، ټکنالوژۍ او حرکت په لټه کي ول خو سورياليستان د انسان د لاشعور، خوبونو او خيالونو او پټې رواني نړۍ د کشف هڅه کوله. دواړه مکتبونه له دوديزو اصولو

څخه د ازادۍ غوښتونکي ول او د نويو هنري امکاناتو د موندلو هڅه يې کوله. همدغه نوښت غوښتنه د دواړو ترمنځ تر ټولو لوی ګډ ټکی دی.

سوريالیزم چې بنستګر او مشر يې اندره بروتون (André Breton) و

"(چې په ۱۹۲۴ ز کې د سوريالیزم مانيفست وليکی) د فرويډ د رواني تحليل له مفکورو اغېزمن سوی و او د "اتوماتيکې ليکنې (Automatic Writing)له لارې يې د شعور خنډونه ماتول، پداسې حال کې چې فوتوريزم د نېتشې او مارکسيستي نظريو تر منځ يو ډول هايبرډ( Hybri) (ګډوله يا مخلوط) و.

خو دواړو د "دود" او "اکاډمۍ" په وړاندې يو ډول بغاوت وکړ: فوتوريستانو موزيمونه "هديرې" بللې او سوريالیستانو کلاسيک هنر "بورژوايي" وباله. همدارنګه دواړو مکتبونو د ژبې سره لوبه وکړه: فوتوريستانو د کلمو ازاد ترکيب

(Parole in libertà) او سوريالیستانو د "عکسونو شوک کوونکی ترکيب"

(لکه ويلي کيدونکي ساعتونه د سلوادور ډلي انځور) دود کړ. په دې توګه، که څه هم د دوی موخې توپير لري خو د دوی طريقه او انرژي يو شان وه او نن ورځ دواړه د مدرن هنر د "ازادۍ دوه اړخه يا څيرې (Two Side of Freedom)" ګڼل کيږي.

**مسعود:** تاسو د فوتوريسم د ښوونځی د زوال او د له منځه تللو، اصلي لاملونه، انګيزې، دک او دليل څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** د فوتوريزم د زوال څو مهم عوامل دادي:

لومړی، د لومړۍ نړيوالې جګړې ناورينونو د دې مکتب ډېرې خوشبينۍ تر پوښتنې لاندې راوستې. هغه تمدن چې فوتوريستانو يې ستاينه کوله، د جګړې په

ډګرونو کې له ستر بحران سره مخامخ سو. دوهم، د دې غورځنګ ځينې مخکښان یا په جګړو کې ووژل سول او یا یې فعالیت کم سو. د بېلګې په توګه اومبرتو بوچيوني په (۱۹۱۶)ز کال کې ومړ.

دربیم، د دادايزم، سوریالیزم او نورو نویو مکتبونو راپیدا کېدو د فوتوریزم ځای محدود کړ.

همدغه عوامل د دې سبب سول چې فوتوریزم د یوه مستقل مکتب په توګه ورو ورو کمزوری سي. د فوتوریزم د زوال یو بل پټ عامل د هغه داخلي تناقض و: دوی له یوې خوا د "انقلاب" او "ازادۍ" ږغ کاوه خو له بلې خوا د ایټالوي فاشیست رژیم (موسولیني) له ښکیلاک سره یې اړیکې ټینګې کړې چې د هنرمندانو یوه ډله یې له دې مکتب څخه لیرې کړه. مارینېټي پخپله د فاشیست پارلمان غړی سو او دا سیاسي اړیکې د فوتوریزم هنري استقلال ته زیان ورساوه.

سربېره پر دې، د (۱۹۲۰)ز مو کلونو په لومړیو کې کله چې اروپا د جګړې له زیانونو رغېده، نو د هنر پام له "تیکنالوژۍ" څخه بیرته "انسان" او د هغه "معنویت" ته واړول سو او (Surrealism) سوریالیزم او(Existentialism) وجودیت غښتلي سول. په دې توګه فوتوریزم چې یو وخت د "راتلونکي" سمبول و خپله د تاریخ برخه سوه.

**مسعود:** ویل شوې دي: د فوتوریسم د ښوونځی له ړنګیدو وروسته، دا مکتب پر نویو ادبیاتو او هنرونو ډېر اغیز وکړ او د کوبیسم، دادایسم، او سوریالیسم د مکتبونو په بنه خپل شتون ته دوام ورکړ، او په ټوله نړۍ کې د نوښتګر، مدرن او عصري هنر لپاره الهام شو. تاسو په دې تړاو څنګه اندئ؟

**ډاکټر رشاد:** دا خبره تر ډېره سمه ده. فوتوریزم د نوښت، تجربې او هنري ازادۍ هغه روحیه رامنځته کړه چې وروسته ګڼو نورو مکتبونو ته انتقال سوه. دادایيستانو (Dadaists)د دوديزو ارزښتونو پر ضد د بغاوت مفکوره ترې واخیسته.

(Surealists) سوریالیستانو د هنري آزادۍ له تجربو څخه ګټه واخیسته.

معاصرې معمارۍ، ګرافیک ډیزاین او صنعتي هنر هم د فوتوریستي لیدلوري له اغېزو بې برخي نه دي. نو ویلای سو چي فوتوریزم د یوه تاریخي مکتب په توګه پای ته ورسېد خو فکري او هنري اغېزې يې لا هم دوام لري. د بېلګې په توګه، د دادا غورځنګ (١٩١٦) چې د تریستان ځارا (Tristan Tzara) او مارسل دوشان (Marcel Duchamp)له خوا رامنځته سو او د فوتوریزم د "دود ماتولو" روحیه يې په رادیکاله توګه تعقیب کړه خو له جګړې پالنې څخه يې ډډه وکړه او د "پوچۍ" او "بې معنایۍ" لوري ته يې راواړوله.

(Cubism) کوبیزم چې مشران يې (Picasso) پیکاسو او براک (Braque) ول د فوتوریزم له "تجزيې" تخنیک څخه اغېزمن سو خو د حرکت پر ځای يې د جامدو شیانو جوړښت وڅېړه.

سوریالیزم بیا د فوتوریزم له "اتوماتیکې لیکنې" څخه مستقیم الهام واخیست خو هغه يې د سیاسي او رواني تحلیل لوري ته راواړوه.

ان د (١٩٦٠)مو کلونو پاپ آرټ (Pop Art) او د (١٩٨٠)مو کلونو پوسټ مدرنېزم (Postmodernism) هم د فوتوریزم له "ماشیني ښکلاو" او «کولاژ» تخنیکونو

څخه کار واخیست. نو په حقیقت کې فوتوریزم د "مدرن هنر" او دادا، کوبیزم، سوریالیزم لپاره لاره هواره کړه او د هغه اغېزې تر نن ورځې پورې د هنر په اکاډمیکو نصابونو کې تدریس کېږي.

**مسعود:** د پښتو ژبې د ادبي نښیرونو(اثارو)او ځانګړي ډولونو (ژانرونو) په تړاو د فوتوریسم د مکتب اغېز څنګه ارزوي؟

**ډاکټر رشاد:** په پښتو ادب کي د فوتوریزم مستقیم او منظم حضور نه لیدل کېږي، خو د نوښت، عصریتوب او د نوي بیان د لټون په برخه کي یې غیر مستقیمې اغېزې محسوسېدای سي.

د شلمي پېړۍ له نیمايي وروسته چي پښتو شعر او نثر د نوو تجربو پر لور ولاړ نو د نړۍ د مدرنو ادبي خوځښتونو اغېزې هم ورو ورو را ښکاره سوې. ځینو معاصرو شاعرانو او لیکوالانو د ښاري ژوند، تخنیکي بدلونونو او نوي عصر د تجربو انعکاس کړی دی چي په پراخه مانا یې د فوتوریستي روحیې له اغېزو سره تړلای سو.

په پښتو ادب کې د عصریتوب دوهمې څپې (۱۹۶۰-۱۹۵۰ز) په کلونو کې د "نوي شعر" غورځنګ له لارې راپیل سوې چې مشران یې لکه عبدالرحمان پژواک، اکاډمیسن سلیمان لایق او پوهاند ډاکتر مجاوراحمد زیار ، جیلاني جلال او نور ول چې له نړیوالو خوځښتونو (لکه سوریالیزم او اکسپرسیونیزم) څخه اغېزمن ول خو د فوتوریزم نوم یې په ښکاره نه یادوه. په دې ډول شعر کې د ښاري او عصري ژوند انځورونه راڅرګند ول چې د فوتوریزم له موضوعاتو سره نژدې تړاو لري. د بېلګې په توګه، د پژواک ځینې شعرونه د "نویوالي" او "عصر" انځورونه لري، او د جلال بعضې شعرونه د "کولاژ" تخنیک کاروي. خو دا اغېزې

تر ډېره د لویدیځو ادبیاتو د ژباړو له لارې راغلې نه د فوتوریزم د مستقیمو مانیفیستونو له لارې.

په دې توګه، که څه هم پښتو ادب کې رسمي فوتوریستي مکتب نه سته خو د هغه فکري انعکاس د معاصر پښتو شعر په ځینو نوښتګرو بېلګو کې لیدل کېږي، او دا پروسه تر نن ورځې پورې دوام لري.

**مسعود:** په پښتو ادبیاتو کې د فوتوریسم لارویانو، مخکښ او نامتو لیکوال څوک دي؟ ایا دوی د فوتوریسم له مکتب او تګلوري څخه اغیزمن دي که نه؟ مهرباني وکړئ د دغو لیکوالو د نوماندو اثارو نومونه واخلئ.

**ډاکټر رشاد:** تر اوسه په پښتو ادب کي داسې کوم منظم او رسمي فوتوریستي مکتب نه دی رامنځته سوی. همدارنګه کوم شاعر یا لیکوال په بشپړه مانا د فوتوریزم استازی نه ګڼل کېږي خو ځیني معاصر لیکوالان او شاعران د نوښت، عصري لید، ښاري تجربو او نوې ژبي د کارولو له پلوه له نړیوالو مدرنو خوځښتونو اغېزمن ښکاري. له همدې امله باید ووایو چي په پښتو ادب کي د فوتوریزم مستقیمه مکتبي بڼه نه سته خو د هغه ځیني فکري او هنري انعکاسات لیدل کېږي.

د پښتو ادب د تاریخ په اوږدو کې ډېری شاعران او لیکوالان د کلاسیکو قالبونو (لکه غزل، رباعي، مثنوي) پابند پاته سوي او یوازې د شلمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې ځینو نوښتګرو شاعرانو (لکه اکاډمیسن سلیمان لایق، پوهاند ډاکټر مجاوراحمد زیار، صدیق کاوون، پروین ملال، عبدالغفور لیوال ، صفیه صدیقي ، نظیف تکل ، خواریکښ نظري  او داسي نور) د نثر او نظم ترمنځ پولې ماتې کړې خو دا نوښتونه تر ډېره د سوریالیزم او عصري نثر له اغېزو راغلي نه د

فوتوریزم د مانیفیسټونو له مستقیم تعقیب څخه. که څه هم د "سپین شعر" او "ازاد شعر" په ځینو بېلګو کې د چټکتیا، ټکنالوژۍ او ښار انځورونه سته خو بیا هم کوم شاعر په قصدي توګه د فوتوریستي اصولو (لکه د کلمو ازاد ترکیب، د نحوي قواعدو ماتول، یا د ماشین ستاینې) څخه پیروي نه ده کړې.

په دې توګه، پښتو ادب کې فوتوریزم د یو "منظم مکتب" په توګه نه بلکي د یو تیت او پرک اغیز له لارې را څرګندسوی دی او د هغه مستقیم استازیتوب د یوه ځانګړي لیکوال لپاره د پوهانو ترمنځ توافق نسته.

**مسعود:** په افغانستان کې د ننداړې''تیاتر''، ډرامې، انځورګرۍ او نقاشۍ، مجسمه جوړونې، معمارۍ، سینما، عکاسۍ، په هنرونو کې د فوتوریسم د سبک او هنر، اغېز څه ډول ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** د افغانستان هنري بهیرونه تر ډېره د سیمه‌ییزو، اسلامي او کلاسیکو فرهنګي سرچینو تر اغېز لاندي پاته سوي دي. له همدې امله فوتوریزم دلته د اروپا په څېر مستقیم حضور نه لري. خو د معاصرې معمارۍ، ښاري ډیزاین، ګرافیک هنر، سینما او ځینو نویو هنري تجربو په برخه کي د عصریتوب هغه روحیه لیدل کېږي چي د فوتوریستي تفکر له عمومي فضا سره نژدې ده . په ټوله کي ویلای سو چي د فوتوریزم اغېز په افغانستان کي تر ډېره غیرمستقیم او د نړیوالو هنري جریانونو د انتقال له لاري څرګند سوی دی.

په افغانستان کې د هنر مدرن کېدل له (۱۹۴۰)ز مو کلونو وروسته پیل سول، کله چې کابل پوهنتون او د ادبیاتو او بشري علومو او وروسته د ښکلو هنرونو پوهنځي جوړ سول او ځینو افغان هنرمندانو په اروپا کې زده کړې وکړې. د بېلګې په توګه، انځورګر عبدالقدیر رسا او حفیظ پاکزاد د لویدیځې نقاشۍ تخنیکونه

(لکه امپرسیونیزم او کوبیزم) له سیمه‌ییزو مضامینو سره یوځای کړل خو د فوتوریزم نوم یې نه یاداوه.

په معماری کې، د (۱۹۶۰)ز مو کلونو د کابل ښار د عصري ودانیو (لکه د کابل هوټل، د پوهنتون ودانۍ، کانټیننټل هوټل ، د وزیر اکبر خان مینې ځینې کورنه ) په راوسته کې د کندهار د عینو مینې ځینې کورنه او داسي نور ډیزاینونو کې د مدرنې معمارۍ کرښې کارول سوې چې بالواسطه د فوتوریستي معمارۍ له مفکورو (لکه افقی کرښو، ښیښو او فولادو) اغېزمنې وې.

په تیاتر کې، د (۱۹۷۰)ز مو کلونو ځینو لوبغاړو (لکه فقیرزاده ، محمد عثمان راد او احمد غوث فقیر) د اروپایي اوانگارد تیاتر (لکه بریخت او آرتو) له تخنیکونو کار واخیست چې بیا په هغو کې د فوتوریزم د "چټکتیا" او "حرکت" غیرمستقیم انعکاس شتون درلود خو د (۱۹۸۰)مو کلونو له جګړو وروسته دا مډرنې تجربې کمې سوې او هنر بیرته دودیزو او کلاسیکو قالبونو ته راوګرځېد.

خو په سینما کې بیا  له اروپا څخه د راغلو اکادیمیکو سینماګرانو له لارې لکه عبدالواحد نظري ، سیدلال شینواري او داسي نورو له لارې دا تجربې په غیر مستقیم ډول تر سره سوې.

د دې ترڅنګ، که د افغانستان د مشروطیت دورې ادبیات او په ځانګړي ډول د سراج الاخبار مکتب او د علامه محمود طرزي افکار چې فوتوریزم سره لږ تر لږه هممهاله و، د ایټالوي فوتوریزم سره پرتله کړو نو هم ورته والي لري او هم توپیرونه.

په ادبي او څېړنيزو ليکنو کي معمولاً نه ويل کېږي چي طرزي فوتوريست و خو ويل کېدای سي چي د هغه په افکارو کي ځيني هغه ځانګړتياوي موجودي دي چي د فوتوريزم له روحيې سره يې نژدې والی درلود.

ورته والی:

۱. د ملت پالني (نشنليزم) روحيه : په دواړو خوځښتونو کي د ملت عظمت او ملي وياړ مهم ځای لري. فوتوريستانو د ايټاليا د ځواکمنېدو، ملي يووالي او نړيوال نفوذ خوبونه ليدل. طرزي او د هغه ملګرو هم د افغان ملت د بيدارۍ، خپلواکۍ او ملي يووالي تبليغ کاوه.

۲. د راتلونکي ستاينه : فوتوريستانو ويل چي بايد د راتلونکي پر لور ولاړ سو او له زړو قالبونو څخه راووزو. طرزي هم په خپلو مقالو کي پر دې ټينګار کاوه چي افغانستان بايد د علم، صنعت، ښووني او تمدن پر لار روان سي او د نړۍ له پرمختګونو سره ځان برابر کړي.

۳. د بدلون غوښتنه : دواړو د خپل وخت له رکود او جمود سره مخالفت درلود. فوتوريستانو د ادبي او هنري دودونو ماتول غوښتل، او طرزي د ټولنيزو او فکري دودونو اصلاح او نوي کول غوښتل.

۴. د مبارزې او جګړې ارزښت : فوتوريستانو جګړه د ملتونو د ځواک نخښه بلله. د مشروطيت ليکوالانو هم د خپلواکۍ لپاره مبارزه ضروري ګڼله. د انګرېزانو د نفوذ او ښکيلاک(استعمار) پر ضد مقاومت د هغوی په ليکنو کي څرګند ليدل کېږي.

۵. پر زړو ادبي موضوعاتو نيوکه : طرزي څو ځله دا خبره کړې ده چي ادبيات بايد يوازي د زلفو، خالونو، ميني او عاشقانه تخيلاتو تر چوکاټه محدود نه وي

بلکي د ملت دردونه، علم، سیاست او ټولنیزي اړتیاوي هم بیان کړي.
فوتوریستانو هم پر دودیزو رومانتیکو او کلاسیکو ادبیاتو سختي نیوکي کولې.

توپیرونه:

۱. د جګړې مفهوم : دا تر ټولو مهم توپیر دی. فوتوریستانو جګړه تقریباً د یوه مستقل ارزښت په توګه ستایله. هغوی ویل چي جګړه د ملتونو د ځواک او نوښت سرچینه ده خو طرزي جګړه د خپلواکۍ او دفاع لپاره لازمه بلله، نه دا چي هره جګړه ښه ده. د هغه موخه سوله، اصلاح او پرمختګ و، جګړه یې یوازې د آزادۍ د ترلاسه کولو وسیله ګڼله.

۲. دیني او اخلاقي بنسټ : فوتوریزم یو اروپایي سیکولر او هنري خوځښت و خو د طرزي فکر د اسلام، شرقي ارزښتونو او افغاني ټولنې له فرهنګي جوړښت سره تړلی و. هغه عصریتوب غوښت، خو د دین د له منځه وړلو غوښتونکی نه و.

۳. ادبي هدف : فوتوریستانو غوښتل د شعر ژبه، وزن، سبک او د هنر ټول اصول بدل کړي. هغوی د ادبي انقلاب غوښتونکي ول. طرزي بیا د ادبیاتو د بشپړ تخریب غوښتونکی نه و، هغه غوښتل ادبیات د ملت خدمت وکړي او نوي موضوعات راونغاړي، خو د ادبي میراث د نابودۍ پلوی نه و.

۴. د ماشین او صنعت لمانځنه : په فوتوریزم کي ماشین، اورګاډی، موټر، فابریکه او سرعت تقریباً د هنري تقدس مقام لري. په سراج الاخبار کي د صنعت او ټکنالوژۍ ستاینه شته خو دومره افراطي نه ده، هلته صنعت د پرمختګ وسیله ده، نه د هنر او ژوند تر ټولو لوړ ارزښت دی.

که په لنډ ډول ووایو: د دوهمې مشروطیت دورې ادبیات او د ایټالوي فوتوریزم ترمنځ د ملت پالني، راتلونکي ته د خوشبینۍ، د بدلون غوښتني، د خپلواکۍ د

مبارزې او پر زړو ادبي موضوعاتو د نيوکو له پلوه څرګند ورته والی موجود دی. خو د جګړې د مفهوم، ديني بنسټ، ادبي موخو او د صنعت د ارزښت په برخه کي ژور توپيرونه لري. له همدې امله د علامه محمود طرزي ادبيات فوتوريستي نه بلل کېږي، خو د فوتوريستي روحيې له ځينو عناصرو سره نژدې والی لري.

اوس که پر سراج الاخبار او بيا په راوروسته کې پر چپې دورې د روسي ايکو فوتوريزم او کيوبو فوتوريزم اغيز په لنډ دول وڅېړو نو ويلای سو چې

سراج الاخبار د اصلاح غوښتوني ، ملت جوړوني او ملي- اسلامي روښانتيا ادبي مکتب و.

ايکو فوتوريزم د فردي نوښت او د شاعر د ځان محوری مکتب و.

کيوبو فوتوريزم د هنري ژبې د ماتولو، تجربې او صنعتي عصر د ستاينې مکتب و.

خو د افغانستان د چپي دورې ادبيات تر ډېره د سوسياليستي رياليزم اغېز منلی و نه د روسي فوتوريزم او له فوتوريزم څخه يې يوازې عمومي فکر لکه د راتلونکي ستاينه، د پرمختګ او صنعت انځورونه او د زړو دودونو نقد په محدود ډول اخيستی خو د فوتوريستانو ژبني او فرمي تجربې په رسمي شوروي ادب او افغان دولتي ادب کې ځای و نه موند.

اوس که د فوتوريسم د اصلي تعريف له مخې قضاوت وکړو، نو په افغانستان کې د تياتر، ډرامې، نقاشۍ، معمارۍ، عکاسۍ او نورو هنرونو په ډګر کې د فوتوريسم مستقيم او سازمان سوی اغېز ډېر کم و. افغانستان داسې صنعتي او ښاري چاپېريال نه درلود چې د ايټالوي فوتوريستانو د «ماشين، سرعت، صنعت او ټکنالوژۍ» مفکورې پکښې په بشپړ ډول وده کړې وای خو که د فوتوريسم پراخ مفهوم، يعنې د راتلونکي لور ته کتل، له دوديزو قالبونو څخه وتل، او د نوې نړۍ

هنري بيان په پام کې ونيسو، نو د افغانستان په معاصرو هنرونو کې يې ځينې غير مستقيمې نخښې ليدل کېږي.

۱. په نقاشۍ او تجسمي هنرونو کې : د افغانستان معاصر هنر په ځانګړي ډول د يوويشتمې پيړۍ له پيل څخه د نويو هنري ژانرونو، انتزاعي نقاشۍ، ګرافيتي، ډيجيټل هنر، ويډيو آرټ او مفهومي هنرونو پر لور ولاړ. دا تحول له کلاسيک مينياتور او دوديز واقعيت‌پال هنر څخه د وتلو نخښه وه. د بېلګې په توګه: شمسيه حسني ښاري فضا، ښځې، هويت او د راتلونکو هيلو موضوعات په

ګرافيتي(Graffiti Art) او ډيجيټل هنر (Digital Art) کې کاروي؛

ArtLords يوه ټولنه چې (۲۰۱۳)ز کال په افغانستان کې رامنځ ته سوه او د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنرونو رياست د ښار ديوالونه د ټولنيز بدلون او راتلونکي تصور لپاره هنري فضا ګرځولې وه. دا هنرونه سوچه فوتوريستي نه دي خو د راتلونکي، بدلون او ښاري ژوند د انځورولو له پلوه د فوتوريستي هنر ځينې نخښې لري.

۲. په تياتر او ډرامه کې : فوتوريستي تياتر په اصل کې د دوديزو داستاني جوړښتونو ماتولو، چټکو صحنو او تجربوي اجراوو پلوی و. په افغانستان کې تياتر د شلمې پېړۍ له لومړيو عصري اصلاحاتو سره راڅرګند سو، خو د هغه تمرکز زياتره پر ټولنيزو، تعليمي او سياسي موضوعاتو و، نه پر فوتوريستي تجربو. د يوويشتمې پيړۍ له پيل څخه ځينې ښاري هنري اجراوې، د ازادې فضا تياتر او (Performance Art) (پرفورمنس آرټ) (ليدونکی هنر له ژونديو اجراوو سره ) رامنځته سول چې د معاصرې نړۍ ستونزې يې مطرح کولې. دا چارې د

فوتوریستي تجربې له روحیې سره څه ناڅه ورته والی لري، خو د فوتوریسم د مکتب مستقیم ادامه نه ګڼل کېږي خو یو څه نیوفوتوریزم ( Neo Futurism) سره اړخ لګوي.

۳. په معمارۍ کې : دلته وضعیت لږ پیچلی دی. فوتوریستي معمارۍ د متحرکو کرښو، نویو موادو او د ماشیني عصر د ښکلا استازیتوب کاوه. په افغانستان کې تاریخي معمارۍ د کابل، کندهار، هرات او بلخ د اسلامي-تیموري دودونو پر بنسټ ولاړه ده؛ د شلمې پېړۍ په منځ او وروستیو کې عصري دولتي ودانۍ، پوهنتونونه او ښاري پروژې رامنځته سوې. د یوویشتمې پیړۍ له پیله نوې ښاري سیمې او تجارتي ودانۍ جوړې سوې، خو زیاتره یې د خلیجي، ترکي، لوېدیځو یا سیمه‌ییزو سبکونو تقلید و، نه د فوتوریزم. نو ځکه ویلای سو چې افغانستان کې «مدرن» او «نوې معمارۍ» سته، خو «فوتوریستي معمارۍ» تقریباً نه سته.

۴. په عکاسۍ کې : عصري افغان عکاسي د طبیعت، د جګړې، مهاجرت، ښارونو، ښځو، هویت او ټولنیز بدلون موضوعات انځوروي. ځینې معاصر عکاسان د ډیجیټلي تخنیکونو او مفهومي لیدلوري له لارې د افغانستان د راتلونکي په اړه هنري پوښتنې راپورته کوي. دا برخه د فوتوریستي «راتلونکی‌محور» (Future Axis) فکر سره تر ټولو نژدې بلل کېدای سي، خو بیا هم د جګړې او هویت بحث پکښې تر ټکنالوژۍ او ماشین ډېر غالب دی.

عمومي ارزونه:

زما په اند د افغانستان په هنرونو کې تر فوتوریسم ډېر اغېزمن جریانونه دا دي: (Modernism) مدرنیزم، ( Social Realism) ټولنیز واقعیت‌پالنه، مفهومي هنر

(Conceptual Art)، او وروسته‌مدرنیزم (Postmodernism) .

فوتوریسم یوازې د ځینو مفکورو لکه نوښت، ښاري ژوند، راتلونکې ته هیله او د دودیزو چوکاټونو ماتولو له لارې اغېز کړی دی.

له همدې امله، که سلنه ورکړو، ښايي ووايو چې د افغانستان په معاصرو هنرونو کې د فوتوریستي عناصرو حضور محدود او غیر مستقیم دی خو د مدرنیزم او معاصر نړیوال هنر اغېز پراخ او ښکاره دی.

نو په ټوله کې فوتوریزم په افغانستان کې هیڅکله یو خپلواک او څرګند غورځنګ نه و بلکې د نړیوال هنر د انتقال په بهیر کې یې غیرمستقیم اغېزې د معاصر هنر په ځینو برخو کې پاتې دي.

**مسعود:** د دې مرکې په پای کې د فوتوریزم په اړه ستاسو وروستۍ ارزونه څه ده؟

**ډاکټر رشاد:** فوتوریزم د شلمې پېړۍ د فرهنګي تاریخ یو له هغو خوځښتونو څخه دی چې د هنر او ادب پر مسیر یې ژور اغېز کړی دی. که څه هم د دې مکتب ځیني افراطي سیاسي او فکري اړخونه د نیوکو وړ دي،خو د نوښت، خلاقیت، تجربې او هنري ازادۍ په برخه کې یې نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي.
فوتوریستانو هنرمندانو ته دا جرئت ورکړ چې د خپل عصر له واقعیتونو سره مخامخ سي او د راتلونکي لپاره نوې هنري ژبه ولټوي. همدا د دوی تر ټولو لوی میراث دی او همدا لامل دی چې د فوتوریزم نوم لا هم د معاصر هنر او ادب په تاریخ کې په درناوي يادېږي.

نن ورځ د فوتوریزم ارزونه د تاریخپوهانو ترمنځ دوه اړخیزه ده: یوه ډله هغه د "فاشیستي هنر" په توګه ګڼدي، ځکه چې مارینېتي وروسته د موسولیني ملاتړ وکړ او د جګړې ستاینه یې وکړه . بله ډله بیا هغه د "هنري ازادۍ لومړنۍ

پیغام(Fist Message of Artistic Freedom)بولي چې د دودیز هنر په وړاندې

یې بغاوت وکړ او د هنر د ټولو راتلونکو خوځښتونو لپاره یې لاره هواره کړه .

د حقیقت په توگه، فوتوریزم د "عصریتوب د نیکمرغۍ او بدمرغۍ" دواړه اړخونه لري: هغه تخنیکي پرمختګ او حرکت ته ارجحیت ورکاوه خو له انساني اړخونو (لکه احساس، عاطفه، اخلاق، او روح) څخه یې غفلت وکړ. خو له دې سره سره د هغه تخنیکي اختراعات (لکه کولاژ، ټایپوگرافي، د حرکت انځورنه) د نن ورځې د هنر، فلم، اعلاناتو او ډیجیټل رسنیو لازمې برخې دي. په دې توگه، فوتوریزم د یو تاریخي پېښې په توگه پای ته ورسېد خو د یو "فکر" یا "انرژي" په توگه د نړیوال هنر په رگونو کې جریان لري او د هغه نوم د شلمې پېړۍ د هنر په تاریخ کې د یو تلپاتي بړغ په توگه پاته دی.

نن چې موږ د مصنوعي ځیرکتیا، روبوټونو، ډیجیټلي شبکو، مجازي واقعیت، کوانټمي کمپیوټرونو او فضایي ټکنالوژۍ په عصر کې ژوند کوو نو ویلای سو چې د فوتوریستانو ډېری خیالونه او آرمانونه تر یوه بریده په حقیقت بدل سوي دي.

فوتوریستانو باور درلود چې انسان باید د علم او ټکنالوژۍ له برکته د خپل ژوند نوې بنې رامنځته کړي. که نن مارینیټي، مایاکوفسکي او نور فوتوریستان ژوندی وای ښایي مصنوعي ځیرکتیا به یې د بشري تمدن د نوي انقلاب په توگه ارزولې وای هغوی به ویلي وای چېAI د انسان د فکري ځواک پراختیا ده لکه څنگه

چې ماشین د انسان د جسمي ځواک پراختیا وه.

اوس مصنوعي ځیرکتیا د معلوماتو د تحلیل، ژباړې، لیکنې، څېړنې، طب، انجینرۍ او اقتصاد په برخو کې داسې بدلونونه راوستي چې د صنعتي انقلاب له

بدلونونو سره سیالي کولای سي. له همدې امله فوتوریستانو به اوس دا یوه ستره تاریخي لاسته راوړنه بلله.

همدارنگه د مجازي واقعیت یا (Virtual Reality)په برخه کي به فوتوریستانو ځانگړې علاقه لرلای ځکه د دوی هنر تل د حرکت، تجربې او نوي احساس د رامنځته کولو هڅه کوله او مجازي نړۍ انسان ته دا توان ورکوي چي له فزیکي محدودیتونو پرته نوي فضاگاني تجربه کړي. دا مفکوره د فوتوریستي تخیل سره بشپړه همږغي لري.

په روبوټیک کي هم د فوتوریستي فکر اغېز لېدلی سو. فوتوریستانو د انسان او ماشین ترمنځ اړیکه یوه مثبته او تکاملي اړیکه بلله، د دوی له نظره ماشین د انسان دښمن نه بلکي د هغه د پرمختگ وسیله وه. نننی روبوټونه په صنعت، طب، کرهڼه او فضایي څېړنو کي هغه رول ترسره کوي چي یو وخت د فوتوریستانو هیلې وې.

خو د دې ټولو تر څنگ یو مهم فلسفي بحث هم راولاړېږي. هغه دا چي: آیا ټکنالوژي به انسان نور هم آزاد کړي او که به یې تر خپل واک لاندي راولي؟ دلته د معاصر فکر او کلاسیک فوتوریسم ترمنځ توپیر راپیدا کېږي.

لومړني فوتوریستان ډېری د ټکنالوژۍ په وړاندي ډېر خوشبین ول خو نننی مفکران د هغه د اخلاقي او ټولنیزو اغېزو په باب هم پوښتني راپورته کوي، د بېلگي په توگه: که مصنوعي ځیرکتیا د انسان ډېری کارونه ترسره کړي نو د کار بازار به څه ډول بدلېږي؟ که روبوټونه د انسان د پرېکړو ځای ونیسي، نو د مسؤلیت مسئله به څنگه حل کېږي؟ که مجازي نړۍ د واقعي ژوند بدیل سي نو د

انساني اړيکو راتلونکی به څه وي؟ دغه پوښتني نن د فلسفې، اخلاقو او ټولنپوهنې له مهمو بحثونو څخه دي.

زما په اند د فوتوريسم تر ټولو ژوندی اړخ نن دا دی چي موږ د راتلونکي په باب فکر کولو ته هڅوي.

فوتوريسم موږ ته را زده کوي چي نړۍ په دوامداره توګه بدلېږي او انسان بايد د بدلون د درک او مديريت وړتيا ولري. که نن يو نوی فوتوريستي مکتب رامنځته سي، ښايي د هغه مهم موضوعات به دا وي: مصنوعي ځيرکتيا، ډيجيټلي هويت، سايبري نړۍ، روبوټيک، فضايي استوګنځايونه، جنيټيکي انجينري، مجازي واقعيت او د انسان او ماشين ګډ تمدن. له همدې امله ويلای سو چي فوتوريسم د شلمي پېړۍ يو تاريخي مکتب نه دی پاته سوی بلکي د يويشتمي پېړۍ د ډېرو علمي او تخنيکي بدلونونو لپاره لا هم يو الهام بخښونکی فکري چوکاټ ګڼل کېدای سي.

په پای کي به ووايم چي مصنوعي ځيرکتيا او راتلونکی ډيجيټلي تمدن هغه ساحې دي چي د فوتوريستانو د پخواني خوب او خيال او د نني واقعيت ترمنځ پُل جوړوي او همدا وجه ده چي د فوتوريسم د مطالعې ارزښت تر اوسه ژوندی او مهم دی.

***

ګران ډاکټر طارق رشاد صاحب!

تاسو په خپله دا علمي، ادبي او مسلکي څېړنه او تحقيق کې، چې د مستندو ماخذونو، علمي معيارونو، نوښتونو او منطقي استدلال، لوړ اند و فکر او نه ستړې کېدونکو هلوځلو پر بنسټ د دې مرکې په تړاو مو ارزښتمن، ژور او ګټور هر اړخيز

ادبي او علمي مالومات وړاندې کړې دي، او راتلونکو څېړونکو ته مو يوه معتبره علمي او مسلکي لار هواره کړې ده د خورا ستاينې او درنښت وړ دی. ستاسو دا علمې او مسلکي څېړنه د علمي معيارونو، اکاډيميکو اصولو او څېړنيزو اخلاقو بشپړ انعکاس دی. زه ستاسو نه د دغو نه ستړيکېدونکي هلو ځلو، علمي معيارونو او مسلکي تعهد له عمله خپله ژوره او د زړه له کومې مننه او درناوی وړاندې کوم. هيلمن يم چې ستاسو ادبي او فرهنگي ارزښتمن، چوپړ او خدمتونه او علمي سفر مو لا نور هم پياوړی، غښتلی، بريالی، او زموږ هېواد، وياړلو او پتمنو هېواد والو ته اغېزناک، گټور، لارښوونکی او تلپاتې وي.

***

گرانه، دروند او د ادب د گلشن ښکلی گله انجنير عبدالقادر مسعود صاحب!

ستاسو د مينې، اخلاص او ښتينولۍ ډکو ټکو مي زړه د پسرلي باران غوندي تازه کړ. هغه څه چي تاسي زما په اړه په دومره درنښت او محبت ليکلي دي، دا ستاسو د سپېڅلي زړه ، صفا، د قلم د درناوي او د ورورگلوۍ ښکلی انځور دی.

زه که هر څه يم، د خپلې خاورې يو خدمتگار يم او که په علم، ادب او فرهنگ کي مي کوم گام ايښی وي، هغه هم د خپل ولس، ژبي او هيواد د ميني له برکته دی .

ستاسي د ميني دا گلپاڼې به زما د ژوند د زړه گلونه تل تازه وساتي.

گرانه!

ستاسي قلم يوازي رنگ نه بلکي احساس لري ، يوازي الفاظ نه بلکي روح لري.

تاسي کلمات داسي اوډلي چې د ادب د ناوي غاړگۍ مو ترې جوړه کړې ده.

که نن ما ستاسو سره کومه مرکه ترسره کړې، دا یوازي زما ویاړ نه بلکي ستاسو د دقیقو او هر اړخیزو پوښتنو پایله ده چې زه یې دې ته هڅولی یم څکه نو دا به مو ګډ ویاړ وي.

قلم مو تل تاند ، فکر مو تل روښانه، او وجود مو تل د ادب او فرهنګ لپاره تلپاته سیوری اوسه.

په پای کي، ستاسي د دې بې ساري مینې، اخلاص او قدرپېژندني څخه د زړه له کومي منڼه کوم. خدای دي وکړي چي زموږ دا ادبي او فرهنګي مزل د مینې، وروروليۍ او خدمت په لاره کې نور هم اوږد، زرغون ، برکتي او تر مزله ورسیږي.

په ډېره مینه او درناوي

ډاکټر طارق رشاد

***

په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود